د پوهنې وزارت

ټولنیز لوستونه

څلورم ټولگی

Ketabton.com



ټولنیز لوستونه - څلورم ټولگی

۱۳۹۸ هـ. ش.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملي سرود

دا وطن افغانستان دی دا عزت د هر افغان دی
کور د سولې کور د تورې هر بچی یې قهرمان دی
دا وطن د ټولو کور دی د بلوڅو د ازبکو
د پښتون او هزاره وو د ترکمنو د تاجکو
ورسره عرب، گوجر دي پامیریان، نورستانیان
براهوي دي، قزلباش دي هم ایماق، هم پشه یان
دا هیواد به تل ځلیږي لکه لمر پر شنه آسمان
په سینه کې د آسیا به لکه زړه وي جاویدان
نوم د حق مو دی رهبر وایو الله اکبر وایو الله اکبر

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

د پوهنې وزارت

ټولنیز لوستونه

څلورم ټولګی

د چاپ کال: ۱۳۹۸ هـ . ش.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کتاب ځانګړتیاوې

مضمون: ټولنیز لوستونه

مؤلفین: د تعلیمي نصاب د ټولنیزو علوموډ څانګې علمي او مسلکي غړي

اډیټ کوونکي: د پښتو ژبې د ایډیټ د څانګې علمي غړي

ټولګی: څلورم

د متن ژبه: پښتو

انکشاف ورکوونکی: د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تألیف لوی ریاست

خپروونکی: د پوهنې وزارت د اړیکو او عامه پوهاوي ریاست

د چاپ کال: ۱۳۹۸ هجري شمسي

د چاپ ځای: کابل

چاپخونه:

برېښنالیک پته: curriculum@moe.gov.af

د درسي کتابونو د چاپ، وېش او پلورلو حق د افغانستان اسلامي جمهوریت د پوهنې وزارت سره محفوظ دی. په بازار کې یې پلورل او پېرودل منع دي. له سرغړوونکو سره قانوني چلندکېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پوهنې د وزیر پیغام

اقرأ باسم ربک

د لوی او ښونکي خدایﷻ شکر په ځای کوو، چې موږ ته یې ژوند رابښلی، او د لوست او لیک له نعمت څخه یې برخمن کړي یو، او د الله تعالی پر وروستي پیغمبر محمد مصطفیﷺ چې الهي لومړنی پیغام ورته (لوستل) و، درود وایو.

څرنګه چې ټولو ته ښکاره ده ۱۳۹۷ هجري لمریز کال د پوهنې د کال په نامه ونومول شو، له دې امله به د ګران هېواد ښوونیز نظام، د ژورو بدلونونو شاهد وي. ښوونکی، زده‌کوونکی، کتاب، ښوونځی، اداره او د والدینو شوراګانې د هېواد د پوهنیز نظام شپږګوني بنسټیز عناصر بلل کیږي، چې د هېواد د ښوونې او روزنې په پراختیا او پرمختیا کې مهم رول لري. په داسې مهم وخت کې د افغانستان د پوهنې وزارت د مشرتابه مقام، د هېواد په ښوونیز نظام کې د ودې او پراختیا په لور بنسټیزو بدلونونو ته ژمن دی.

له همدې امله د ښوونیز نصاب اصلاح او پراختیا، د پوهنې وزارت له مهمو لومړیتوبونو څخه دي. همدارنګه په ښوونځیو، مدرسو او ټولو دولتي او خصوصي ښوونیزو تأسیساتو کې، د درسي کتابونو محتوا، کیفیت او توزیع ته پاملرنه د پوهنې وزارت د چارو په سر کې ځای لري. موږ په دې باور یو، چې د باکیفیته درسي کتابونو له شتون پرته، د ښوونې او روزنې اساسي اهدافو ته رسېدلی نشو.

پورتنیو موخو ته د رسېدو او د اغېزناک ښوونیز نظام د رامنځته کولو لپاره، د راتلونکي نسل د روزونکو په توګه، د هېواد له ټولو زړه سواندو ښوونکو، استادانو او مسلکي مدیرانو څخه په درناوي هیله کوم، چې د هېواد بچیانو ته دې د درسي کتابونو په تدریس، او د محتوا په لېږدولو کې، هیڅ ډول هڅه او هاند ونه سپموي، او د یوه فعال او په دیني، ملي او انتقادي تفکر سمبال نسل په روزنه کې، زیار او کوښښ وکړي. هره ورځ د ژمنې په نوي کولو او د مسؤولیت په درک سره، په دې نیت لوست پیل کړي، چې د نن ورځې ګران زده‌کوونکي به سبا د یوه پرمختللي افغانستان معماران، او د ټولنې متمدن او ګټور اوسېدونکي وي.

همدا راز له خوږو زده کوونکو څخه، چې د هېواد ارزښتناکه پانګه ده، غوښتنه لرم، څو له هر فرصت څخه ګټه پورته کړي، او د زده کړې په پروسه کې د ځیرکو او فعالو ګډونوالو په توګه، او ښوونکو ته په درناوي سره، له تدریس څخه ښه او اغېزناکه استفاده وکړي.

په پای کې د ښوونې او روزنې له ټولو پوهانو او د ښوونیز نصاب له مسلکي همکارانو څخه، چې د دې کتاب په لیکلو او چمتو کولو کې یې نه ستړې کېدونکې هلې ځلې کړې دي، مننه کوم، او د لوی خدایﷻ له دربار څخه دوی ته په دې سپیڅلې او انسان جوړوونکې هڅې کې بریا غواړم.

د معیاري او پرمختللي ښوونیز نظام او د داسې ودان افغانستان په هیله چې وګړي یې خپلواک، پوه او سوکاله وي.

د پوهنې وزیر

دکتور محمد میرویس بلخي

(c) ketabton.com: The Digital Library

فهرست

شمېرې	سرليکونه	مخونه
۱	ټولنيز ژوند	۱
۲	کورنۍ	۳
۳	د کورنۍ اهميت	۵
۴	د کورنۍ د غړو دندې	۷
۵	په کورنۍ کې نظم	۹
۶	جومات	۱۱
۷	ښوونځی	۱۳
۸	په ښوونځي کې دندې	۱۵
۹	د افغانستان د پوهنې تاريخچه	۱۷
۱۰	په کلي کې ژوند	۱۹
۱۱	کليوالي کسبونه او لاسي صنعتونه	۲۱
۱۲	په کلو کې کرنه	۲۳
۱۳	په کلو کې مالداري	۲۵
۱۴	په کلو کې د مالدارۍ ګټې	۲۷
۱۵	ښاري ژوند	۲۹
۱۶	د ښاري خلکو کسبونه	۳۱
۱۷	د ښارونو ډولونه	۳۳
۱۸	د افغانستان مهم او تاريخي ښارونه	۳۵
۱۹	د نړۍ لوی ښارونه	۳۷
۲۰	زمونږ هېواد افغانستان	۳۹
۲۱	ملي بيرغ	۴۱
۲۲	دولتي اداري	۴۳
۲۳	ترافيکي مقررات	۴۵
۲۴	د چاپېريال ساتنه	٤٧
۲۵	ځلور اصلي خواوې	٤٩
۲۶	ځلور فرعي خواوې	۵۱
۲۷	نقشه او د هغې ځلور خواوې	۵۳
۲۸	د افغانستان ځلور خواوې	۵۵
۲۹	زمونږ د هېواد اداري وېش	۵۷
۳۰	د افغانستان دين ژبه او نفوس	۵۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

شمېره	سرليکونه	مخونه
۳۱	د افغانستان غرونه	٦١
۳۲	د افغانستان مشهور غرونه	٦٣
۳۳	د افغانستان سيندونه	٦٥
۳۴	د افغانستان مشهور سيندونه	٦٧
۳۵	لوېږوچې (قاړې)	۶۹
۳۶	د آسيا وچه	۷۱
۳۷	د اروپا وچه	۷۳
۳۸	د افريقا وچه	۷۵
۳۹	د امريکا وچه	۷۷
۴۰	د آسترالیا او اوقيانوسيې وچې	۷۹
۴۱	انتارکتيکا(سويلې قطب)	۸۱
۴۲	سمندرونه	۸۳
۴۳	بحر الکاهل او د اطلس سمندر	۸۵
۴۴	د هند سمندر او شمالي منجمد سمندر	۸۷

شمېره	سرليکونه	مخونه
۴۵	ځمکه او د هغې شکل	۸۹
۴۶	د استوا کرښه	۹۱
۴۷	طول البلدونه	۹۳
۴۸	عرض البلدونه	۹۵
۴۹	د ځمکې حرکتونه	۹۷
۵۰	د ځمکې انتقالي حرکت	۹۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

د څپرکي موخې

- د ټولنې په مفهوم به پوه شي.
- انسان به د ټولنیز موجود په توګه و پېژني.
- د ټولنې په پرمختګ کې به د ټولنیزو اړیکو ارزښت تشریح کړای شي.
- د سولې، پخلاینې او انسان دوستۍ سره به یې مینه او علاقه زیاته شي.
- خپل او د نورو حقونه به و پېژني او هغو ته به درناوی وکړي.

لومړی لوست

ټولنیز ژوند

پوښتنه: په لاندې انځورونو کې څه وینئ؟

د هرات د مرمرینو ډبرو فابریکه

پیرډونکي او پلورونکي په بازار کې

زده کوونکي د شوونځي په چاپېریال کې

وګړي د نیالګیو کښینولو په حال کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوم انځورونه مو چې ولیدل، ټولنیز ژوند را ښیي.

انسان ټولنیز موجود دی. ټولنیز ژوند په دې معنا دی چې یو شمېر انسانان په یوه جغرافیایي ټاکلې سیمه کې سره ژوند کوي چې ګډ دین، تاریخ، دودونه او رواجونه لري.

انسانان د ټولنیز ژوند د پر مخ بیولو لپاره یو له بل سره مرسته کوي او خپلې اړتیاوې پوره کوي. انسان نشي کولای چې له ټولنې څخه لیرې او یوازې ژوند وکړي. د دې مقصد لپاره د نورو انسانانو شتون اړین دی. مور باید په خپلو کې ښې او دوستانه اړیکې ولرو.

فعالیت

په ډلو کې د ټولنیز ژوند په اړه خبرې وکړئ.

ځواب ورکړئ

- ټولنیز ژوند څه ډول ژوند ته وایي؟
- د انځورونو له مخې د ټولنیز ژوند دوه بېلګې بیان کړئ؟
- مور باید په خپلو کې څه ډول اړیکې ولرو؟

کورنۍ دنده

د خپلې سیمې د ټولنیز ژوند په اړه یو لنډ مطلب په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کورنۍ

پوښتنه

ستاسې په آند، په کورنۍ کې کوم کسان ژوند کوي؟

د کورنۍ غړي

کورنۍ د کور د غړو په معنا ده چې له: مور، پلار، زامنو او لورګانو څخه جوړه شوې ده، کورنۍ د ماشومانو د ښوونې او روزنې لومړنۍ ځای شمېرل کېږي او ماشومان له مور، پلار، وروڼو اوخويندو څخه د ژوند آداب زده کوي. مينډې او پلرونه ماشومانو ته د سلام ادبونه او د مشرانو درناوی ورزده کوي. د ماشومانو شتون په کورنۍ کې ژوندته خوښي وربخښي. په ځينو کورنيو کې انا، نيکه،

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلار، مور، زامن، لمسیان، ترونه او تریندې یو ځای ژوند کوي، چې دا ټول د کورنۍ غړي ګڼل کیږي. پر مور لازمه ده چې د خپل مور، پلار او مشرانو درناوی وکړو.

له نبو وګړو څخه نبه کورنۍ او له نبو کورنیو څخه نبه ټولنه منځ ته راځي. د کورنۍ پیاوړتیا د ټولنې د پیاوړیتوب لامل ګرځي.

فعالیت

په ډلو کې د کورنۍ او د هغو د غړو په اړه بحث وکړئ.

خواب ورکړئ

- د ماشومانو د نبوونې او روزنې لومړنی ځای کوم دی؟
- تاسې له خپلې مور او پلار سره څرنګه چلند کوئ؟
- تاسې له کورنۍ څخه څه زده کوئ؟

کورنۍ دنده

د خپل کور د غړو دندې په کتابچو کې ولیکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دریم لوست

د کورنۍ اهمیت

پوښتنه

ستاسو په آند! ماشوم کوم شیان له کورنۍ څخه زده کوي؟

کورنۍ د ټولنې بنسټ جوړوي، که چېرته د کورنۍ بنسټ ښه او سم وي ټولنه به هم ښه او سمه وي. ماشوم د ټولنیز ژوند اساس له کورنۍ څخه زده کوي. کورنی ژوند، ټولنیز ژوند ته د ورننوتو پېل دی. ښه کورنۍ غوره روزنتون دی، چې ماشوم په هغې کې ښه اخلاق، ربښتینولي، امانت ساتنه، صبر، سخاوت، سرښندنه، خدمت او د مسؤولیت منل زده کوي. ښه کورنۍ ماشومانو ته د فکرکولو او د علم د زده کړې لارې هواروي. کورنۍ د روزنې او استعدادونو د ودې لومړنی غوره مرکز دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیت

په ډلو کې د لاندینۍ پوښتنې په اړه بحث وکړئ:

د ټولنیز ژوند اساس کوم څای کې ایښودل کیږي؟

خواب ورکړئ

- ماشوم له نښې کورنۍ څخه کوم شیان زده کوي؟
- ماشوم د کورنۍ ژوند اساس چېرته زده کوي؟
- کوم مهال به یوه کورنۍ پیاوړې او ځواکمنه وي؟

کورنۍ دنده

د کورنۍ د اهمیت په اړه څو کرښې په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کورنۍ د غړو دندې

پوښتنه

ستاسو په آند؛ د ورځنيو کارونو سمول څه ګټې لري؟

د کورنۍ هر غړی دندې لري. د ژوند دچارو د پرمخ بيولو لپاره د کورنۍ د غړو ترمنځ مرسته اړينه ده.پلار تل د کورني ژوند د اړتياوو د پوره کولو لپاره زياړباسي او د ماشومانو په روزنه او د کور په کارونو کې ونډه اخلي. مينډې د کور دکارونو د سرته رسولو سربېره د خپلو ماشومانو ساتنه او روزنه کوي، له کور څخه بهر دندې، لکه: معلمي، طبابت او داسې نورې پرمخ وړي. په کورنۍ کې لونې او زامن هم د خپل توان او استعداد سره سم د کور په کارونو کې مرسته کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نېکمرغه کورنۍ هغه ده چې غړي يې په خپلو کې مهربان، خواږه او يو تربله سره مرسته کوي.

فعالیت

په ډلو کې د کور په کارونو کې د اولادونو د ونډې اخېستلو د اهمیت په اړه خبرې وکړئ.

ځواب ورکړئ

- د کورنۍ د غړو ترمنځ مرسته کول څه اهمیت لري؟
- یوه نېکمرغه کورنۍ څنګه جوړیږي.
- مینډې د کور د کارونو د ترسره کولو سربېره، نورې کومې دندې پرمخ وړي؟

کورنۍ دنده

هغه کارونه چې په کور کې سرته رسوئ په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په کورنۍ کې نظم

پوښتنه

ستاسې په آند! په کورنۍ کې د نظم شتون څه اهمیت لري؟

کور د کورنۍ دغړو د استوګنې ځای دی. د سوکاله ژوند لپاره په کورنۍ کې د نظم او سمون مراعاتول ډېر اړین دي.

په کورنۍ کې د نظم د راوستلو لپاره باید هرڅه له استفادې وروسته په خپل ټاکلي ځای کې کېښودل شي. د کورنۍ هرغړی باید خپل شیان، لکه: کالي، بوټونه، کتابونه د کار او ښوونځي وسایل په خپل ټاکلي ځای کې کېږدي، ترڅو د اړتیا په وخت کې یې په آسانۍ سره پیدا کړي، په کورنۍ کې د نظم د راوستلو لپاره باید د کورنۍ هرغړی د خپلو چارو د سمون لپاره مهال ویش ولري، چې په هغه کې د خوب، اودس، لمونځ، د قرآنکریم تلاوت، مطالعې،

(c) ketabton.com: The Digital Library

تفریح، ورزش، د کور د کارونو، یوله بل سره د خبرواترو او داسې نورو وخت معلوم وي.

باید پوه شو چې په کور کې د نظم پلي کول په ژوند کې ښه والی او آسانتیا منځ ته راوړي..

فعالیت

په ډلو کې د کورنۍ د نظم پر ګټو خبرې وکړئ.

ځواب ورکړئ

- د چارو د مهال وېش شتون څه ګټه لري؟
- ولې باید هر شی په خپل ځانګړي ځای کې کېږدو؟
- د کومو کارونو رعایت کول په کورنۍ کې د نظم لامل ګرځي؟

کورنۍ دنده

د خپلو ورځنیو چارو د تنظیم لپاره په خپلو کتابچو کې یو مهال وېش جوړ کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د څپرکي موخې
- د جومات په ښوونیزه او روزنیزه ونډه به پوه شي.
- په ښوونځي کې د ښوونې او روزنې په ونډه به پوه شي.
- د ښوونځي دندې به تشریح کړای شي.
- په جومات او ښوونځي کې به له زده کړې سره مینه پیدا کړي.

شپږم لوست

جومات

پوښتنه: ستاسې په آند! جومات د ماشومانو د ښوونې او روزنې په وده کې څه ونډه لري؟

جومات د عبادت کولو، ښوونې او د مسلمانانو د شورا غوره ځای دی. دجوماتونو د ښوونې او روزنې تاریخ ډېر لرغونی دی چې بنسټ یې د اسلام ستر پیغمبر حضرت محمد(صلی الله علیه وسلم) ایښی دی، په اسلامي نړۍ کې د ښوونې او روزنې بنسټ په جوماتونو کې ایښودل شوی دی.

پخوا به عالمانو، امامانو او پوهانو علم او پوهه په جوماتونو کې زده کوله. ماشومان په ښوونځیو کې له شاملیدو څخه مخکې، د ښوونې او روزنې د ترلاسه کولو لپاره جوماتونو ته ځي. په جومات کې د پنځه وخته لمونځ اداکول اجر او ثواب لري، سربېره پر دې په مسلمانانو کې د ټولنیزو اړیکو د ودې لامل هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

گرځي. څرنګه چې جومات د عبادت او د مسلمانانو د زده کړې ځای او مدرسه ده، نو له دې امله ټول مسلمانان باید د جومات په آبادۍ، نظافت او پاکۍ کې برخه واخلي.

فعالیت

په ښوونه او روزنه کې د جومات د وندې په اړه خبرې وکړئ او پایله یې یو تن د ټولګي په وړاندې نوروته واوروئ.

ځواب ورکړئ

- جومات د څه شي ځای دی؟
- په جومات کې د ښوونې او روزنې بنسټ چا ایښی دی؟
- پنځه وخته لمونځونه په جمعې سره څه ګټې لري؟

کورنۍ دنده

په ښوونه او روزنه کې د جومات د وندې په اړه یو مطلب جوړ او هغه په راتلونکي لوست کې ولولئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښوونځی

پوښتنې

- ستاسې په آند! ښوونځی او ښوونه او روزنه په ټولنیز ژوند کې څه ونډه لري؟

- څه فکر کوئ، ښوونځی سربېره پردې چې د علم او پوهې ځای دی، نور څه اهمیت لري؟

له کورنۍ او جومات څخه وروسته لومړنی ټولنیز بنسټ ښوونځی دی چې ماشومان پکې په رسمي او منظمه توګه ښوونه او روزنه ترلاسه کوي.

ښوونځی هغه ځای دی چې په هغې کې زده کوونکي ديني، اخلاقي، علمي او ادبي ښوونه او روزنه ترلاسه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښوونځی له دې کبله اهمیت لري چې هلته ډول، ډول علوم زده کوو او له خپلو ټولنیزو مسوولیتونو سره بلدتیا پیدا کوو. په ښوونځي کې د پوهې او علم پر زده کړې سربېره له نورو زده کوونکو او استاذانو سره پېژنو او له هغو ی سره ټولنیزې اړیکې ټینګوو.همدارنګه د ګډ ژوند، مرستې او یو بل ته د درناوي ورتیاوې لاسته راوړو.

د ګټورې پوهې او سالمې روزنې په ترلاسه کولو سره صالح او پوه انسانان ټولنې ته وړاندې کېږي، ترڅو خپل ځان، کورنۍ او هېواد ته د خدمت کولو جوګه شي.

بنسټ څه ته وایي؟ بنسټ په لغت کې اساس او تهداب ته وایي. په اصطلاح کې، هرهغه جوړښت ته ویل کېږي چې د ټولنې د اړتیا وو د پوره کولو لپاره رامنځته شوی وي، لکه: مدرسې، ښوونځي، روغتونونه او دولتي ادارې.

فعالیت

په ډلو کې په دې اړه چې مور چېرته ببلابېل علوم زده کوو او له ټولنیزو مسوولیتونو سره بلدتیا پیدا کوو بحث وکړئ.

خواب ورکړئ

- له کورنۍ او جومات څخه وروسته ماشومان کوم بنسټ ته لاړه مومي؟
- په ښوونځي کې زده کوونکي کوم شیان زده کوي؟
- ګټوره ښوونه او سالمه روزنه د څه شي لامل ګرځي؟

کورنۍ دنده

د علم په زده کړه کې د ښوونځي د ونډې په اړه څو کرښې په خپلو کتابچوکې ولیکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ښوونځي کې دندې

پوښتنې

- آیا پوهیږئ! د ښوونځي هر غړی څه دنده لري؟

- ستاسې په آند، زده کوونکي باید په ښوونځي کې کومې دندې سرته ورسوي؟

په ښوونځي کې د ښوونکو غونډه

هر څوک په ښوونځي کې خپلې اړوندې دندې په خپله سرته رسوي، د بېلګې په توګه: د ښوونځي د مدیر دنده د نورو په پرتله مهمه ده. هغه دنده لري چې د ښوونځي اړیکه د زده کوونکو له کورنۍ او دولتي ادارو سره وساتي. د ښوونکو غونډه په ټاکلي وخت پیل کړي، د ښوونځي د مرستیالانو او سرښوونکو دنده د مضمونونو د مهال وېش جوړول، د درسي موادو، حاضري او ترقي تعلیم تیارول او د مدیر په نه شتون کې د ښوونځي سرپرستي او د مدیر د دندو سرته رسول هم د هغوی پرغاړه دي.

د ښوونکو دندې ټولګي ته په ټاکلي وخت تلل، د زده کوونکو له حال څخه خبرتیا، لوست ورکول، د ستونزو د حل لپاره چمتو والی او د هغوی سالمې روزنې ته پاملرنه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملازمین د ښوونځي د پاکۍ او صفایۍ دنده لري. د زده کوونکو دنده دا ده چې هره ورځ (د جمعې او رخصتیو څخه پرته) ښوونځي ته لاړشي، په خپلو زده کړو کې کوښښ وکړي. د ښوونکو خبرو ته غوږ کیږدي، له بې ځایه ناسوبتیا څخه ډډه وکړي، له ټولګي څخه په خپل سر ونه وځي، د خپل ښوونځي په زرغونیدو، پاکۍ او نظافت کې برخه واخلي. نبه زده کوونکي د مدیر، ښوونکو او ټولو زده کوونکو درناوی کوي او تل د ښوونځي په ډله ییزو چارو کې پوره ونډه اخلي، د ښوونځي مقررات عملي کوي او مسوولیت پېژندونکي وي.

د ښوونځي اداره د پورتنیو دندو سربېره مکلفیت لري چې د زلزلې او اورلګېدنې د ژغورنې مهارتونه هم زده کوونکو ته ور وښایي.

فعالیت

په ډله ییزه توګه د ښوونکي د دندو په اړه خبرې وکړئ.

ځواب ورکړئ

- زده کوونکي په ښوونځي کې کومې دندې لري؟
- تاسې د ښوونځي په کومو چارو کې برخه اخلئ؟
- د ښوونځي د سر ښوونکو دنده بیان کړئ.

کورنۍ دنده

د نبه زده کوونکي د دندو په اړه چې څومره پوهېږئ په خپلو کتابچو کې یې ولیکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د افغانستان د پوهنې تاریخچه

پوښتنه

څه فکر کوئ! زمور په هېواد کې رسمي پوهنه څه وخت رامنځته شوه؟

زمور په هېواد کې د ماشومانو ښوونې او روزنې له پخوا څخه شتون درلود. ماشومانو په جوماتونو او کورونو کې زده کړې کولې، لوستل او لیکل یې زده کول. د رسمي ښوونې او روزنې بنسټ د امیر شیرعلی خان د پادشاهۍ په مهال د دوو ښوونځیو په جوړېدوسره چې یو یې ملکي او بل یې نظامي و کینښودل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له هغه وروسته د (حبیبیې او حربي) په نومونو دوه ښوونځي د امیر حبیب الله خان په مهال پرانیستل شول.

د امیرامان الله خان په وخت کې په افغانستان کې ښوونې او روزنې ښه پرمختګ وکړ، د نارینه وو په عصري ښوونځیو سربېره یو ښځینه ښوونځی په کابل کې د مستورات په نامه هم پرانیستل شو. د امیر حبیب الله کلکاني په پاچاهۍ کې ښوونځي وتړل شول. بیا د محمد نادر خان په وخت کې د ښوونځیو دروازې د زده کوونکو پر مخ خلاصې شوې. د محمد ظاهر شاه په وخت کې ښوونې او روزنې ډېر پرمختګ وکړ. د وخت په تېرېدو سره چې په هېواد کې یو لړ پېښې را منځ ته شوې، د پوهنې نظام تر ټولو زیات زیانمن شو. په هېواد کې د ډېرو بدلونونو او د نوي نصاب په منځته راتلو سره اوس زمور د ښوونې او روزنې سیستم د غورېدو په حال کې دی. د دولتي ښوونځیو او پوهنتونونو سربېره په لس ګونه خصوصي ښوونځي او پوهنتونونه د هېواد په مرکز او ولایاتوکې تأسیس شول، چې دا په هېواد کې د ښوونې او روزنې د پرمختګ ښکارندوی دی.

فعالیت

په ډلو کې د لوست د عمده ټکو لنډیز په خوکرښوکې ولیکئ.

خواب ورکړئ

- په پخوا وختونو کې زمور په هېواد کې ښوونه او روزنه په خوډوله ترسره کېده؟
- د حبیبې لیسه د کوم پاچا په وخت کې پرانیستل شوې ده؟
- ښځینه ښوونځی د لومړي ځل لپاره د چا په وخت او په کوم ځای کې پرانیستل شو؟

کورنۍ دنده

د کورنۍ د مشرانو په مرسته د هغو کسانو لست تیار کړئ چې ستاسو له ښوونځي سره یې مادي او معنوي مرستې کړې دي، بیا یې په ټولګي کې نوروته وړاندې کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د څپرکي موخې
- په کلی کې به د ژوند سره بلد شي.
- کلیوالی کسبونه او لاسي صنعتونه به زده کړي.
- د کرنې د چارو ډولونه به بیان کړای شي.
- د مالداری ګټې به درک کړي.
- د کرنې او مالداری سره به مینه پیدا کړي.

لسم لوست

په کلي کې ژوند

پوښتنې

- څه فکر کوئ! خلک په کلي کې په کوم ډول ژوند کوي؟
- ستاسو په آند، دکلي ژوند له ښاري ژوند سره څه توپیر لري؟

د کلي انځور

کلی د ښار په پرتله کوچنی دی او نفوس یې له ښار څخه لږ وي. د کلي خلک په کرنه، مالداری او لاسي کارونو بوخت وي چې همدا کسبونه د کلي د اقتصادي شتمنیو سرچینې جوړوي. په کلي کې ژوند کول د ښار په پرتله ساده دی، په کلو کې، باغونه او ډول ډول ونې وي. له دې کبله د کلي هوا پاکه او په زړه پورې وي او خلک یې د ښه صحت او روغتیا خاوندان دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کلي خلک ډېر زیارکښ، مېلمه پاله، مهربانه او یو له بل سره د وروري او دوستي اړیکي لري.

په کلي کې ټولنیز ژوند د مرستې او همکاري پربنسټ ولاړ دی او خلک یو د بل په غم او شادي کې ګډون کوي. دولت د کلو د خلکو د ژوند د ښه کېدلو، د روغتیایي، ښوونیزو، کرنیزو، اقتصادي ښو خدمتونو په موخه د کلو د پراختیا وزارت جوړ کړی دی.

دولت دنده لري چې د طبیعي پېښو،لکه: زلزلې،طوفان، اورلګیدنې او داسې نورو په اړه خلکوته پوهاوی ورکړي، چې مخکې له مخکې د هغو په وړاندې چمتو شي او همدارنګه د پېښو د رامنځته کېدلو په وخت کې زیانمنو خلکو ته مرستې ورسوي.

فعالیت

د کلي خلک زیاتره په کومو چارو بوخت وي؟ په دې اړه په ډلو کې سره خبرې وکړئ.

خواب ورکړئ

- د کلي د اقتصادي عوایدو اساسي سرچینې څه شی جوړوي؟
- ولې د کلي خلک له ښې روغتیا او سلامتي څخه برخمن دي؟
- د کلو د خلکو د ښه خدمت لپاره د دولت په چوکاټ کې کوم وزارت جوړ شوی دی؟

کورنۍ دنده

د کلیوالي ژوند په اړه څو کرښې په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کلیوالي کسبونه او لاسي صنعتونه

پوښتنې

- څه فکر کوئ! په کلي کې څه ډول کسبونه او لاسي کارونه دود دي؟

- ستاسو په فکر، زمور د هېواد کلیوالي لاسي صنعتونه کوم دي؟

د کلو اوسیدونکي زیاتره د بزګرۍ، بڼوالۍ او مالدارۍ په چارو بوخت وي، خو د هغو تر څنګ ځینې کسان د خپلو کلیوالو د اړتیاوو د پوره کولو لپاره ځانګړي کسبونه او لاسي کارونه هم سرته رسوي، لکه: پښګري، ترکاڼي، کولالي، خټګري، ټټاري، زرګري، حلبي سازي همدارنګه د پوزي، غالۍ، ټغر، سترنجۍ، شال، لونګۍ، جاکټ او شړۍ اوبدل، خامك او چرمه ګنډل او داسې نور . درانه کسبونه، لکه: پښګري، خټګري، ترکاڼي او داسې نور. د نارینه وو کار دی او لاسي کارونه، لکه: خامك ګنډل، چرمه ګنډل او داسې نور زیاتره ښځې ترسره کوي. ځینې لاسي صنعتونه، لکه: غالۍ، ټغر او د خامك ګنډنې ځینې ډولونه د هېواد د صادراتو مهمه برخه جوړوي. ځکه چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

کليوالو کسبګرو توليد ډېر ابتدايي او ساده وي او د خپلو کليوالو ټولې اړتياوې نشي پوره کولای، نو له همدې کبله د کلي خلک خپلې اړتياوې له خپلو نژدې بازارونو څخه ترلاسه کوي.او د لاسي صنايعو محصولات په شاوخوا او لېرې بازارونو کې خرڅوي.

فعالیت

په ډلو کې د لوست غوره مطلبونه په لنډه توګه ووایاست.

خواب ورکړئ

- د لاسي کارونو کوم ډول توليدات زمور د هېواد د صادراتو مهمه برخه جوړوي؟
- په کلو کې ښځې کوم ډول کليوالي کسبونه او لاسي صنايع پرمخ وړي؟
- په کلو کې نارينه په کوم ډول کسبونو بوخت وي؟

کورنۍ دنده

د خپلو مشرانو په مرسته دکليوالي کسبونو او لاسي صنعتونو ګټې په خپلو کتابچو کې وليکئ او په بل درسي ساعت کې يې خپلو ټولګيوالو ته ولولئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په کلو کې کرنه

پوښتنې

- ستاسو د کلي مهم کرنیز محصولات څه شی دي؟

- کله تاسې د کرنې په چارو کې له خپلې کورنۍ سره مرسته کړې ده؟

زمور د هېواد زیاتره خلک په کلو کې ژوند کوي، د کلي هوا پاکه او خاوره یې د کښت او کرنې لپاره برابره وي. د کلي خلک زیاتره په کرنې او مالدارۍ بوخت وي. کرنیز او حیواني محصولات د کلي د اقتصاد بنسټیزه برخه جوړوي. زمور ګران هېواد افغانستان یو کرنیز هېواد دی چې د هغې ځینې پیداوار په لاندې ډول دي:

۱- غَلې دانې، لکه: غنم، وریجې، وربشې، جوار او...

۲- بقول(پلي لرونکي نباتات)، لکه: لوبیا، نخود، مشنګ، باقلي او مې (ماش).

په غوایانو یوې

په تراکتور یوې

۳- غوړي لرونکي تخمونه، لکه: پندانه (پنبه دانه)، کونځلې، زغر، شړشم، زیتون او لمر ګلی(آفتاب‌پرست).

۴- طبي بوټي، لکه: زعفران، هنجه، بادیان، زنکۍ (زیره)خوړه وله او...

۵- قند لرونکي بوټي، لکه: ګنې، چغندر او ...

(c) ketabton.com: The Digital Library

۶- تازه میوې لکه: انګور، زردآلو، ګیلاس، آلوبالو، شفتالو، آلوچې، توت، منې، ناک، انار، خټکي، هندواني، مالټې، نارنج، لیمو او داسې نور.

۷- وچې میوې، لکه: بادام، پسته، غوزان، جلغوزي، ممیز، انځر او نور.

۸- د سبو ډولونه، لکه: کچالو(الوګان)، پیاز، تور بانجان، بنډۍ، کدو، فاصلیه، تورایي، ګندنه، پالک، بادرنګ، کاهو، دانیه، نعناع، ایلنی، مولۍ، سرې مولۍ هوره، مرچ او داسې نور.

پر پورتنیو کرنیزو محصولاتو سربیره د هېواد په ځینو ولایتونو کې یو لړ ځنګلونه هم شته چې له میوو او لرګیو څخه یې ګټه اخیستل کیږي.

وچې او تازه میوې او ځینې طبي بوټي بهرنیو هېوادونو ته صادریږي چې د هېواد د صادراتو مهمه برخه جوړوي، د کرنې او زراعت د اهمیت له کبله دې پایلې ته رسیږو چې کرنه او بزګري ښه با ارزښته او شریفه دنده ده او د اسلام په سپیڅلي دین کې اجر او ثواب لري.

فعالیت

هره ډله دې د خپلې سیمې کرنیز محصولات په خپلو کتابچو کې ولیکي.

خواب ورکړئ

- ستاسې په سیمه کې کوم ډول بوټي او میوې زیات اقتصادي ارزښت لري؟
- کرنه زمور په کورنۍ اقتصاد کې څومره ارزښت لري؟
- د افغانستان کوم ډول کرنیز حاصلات بهرته صادریږي؟

کورنۍ دنده

د کورنۍ په مرسته د څو طبي بوټو نومونه په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په کلو کې مالداري

پوښتنې

- څه فکر کوئ! په کلو کې څه ډول کورنۍ څاروي ساتل کېږي؟
- ستاسو په آند! د څارویو محصولات څه ګټې لري؟

انسانانو له پخوا زمانو څخه د خپل ژوند د اړتیاوو د پوره کولو لپاره کورنۍ څاروي ساتلي او له هغو څخه یې ګټه اخیستې ده، زمور په هېواد کې د څارویو د ساتنې او پالنې کسب د کورنیو څارویو،لکه:وزو، پسونو،غوایانو، اوښانو، آسانو، کچرو،خرو او نورو څخه عبارت دی څرنګه چې په کلو کې د ښارونو په



(c) ketabton.com: The Digital Library

نسبت څارويو ساتلو ته زمينه ډېره برابره ده، نو ځکه د کلو خلک د خپل ژوند د اړتياوو د پوره کولو لپاره زياتره څاروي ساتي او د هغو له روزلو سره ډېره مينه لري.

فعاليت

په ډلو کې د لاندې پوښتنو په اړه خبرې وکړئ.

- ستاسو په کلي کې کوم څاروي ډېر ساتل کېږي؟ نومونه يې واخلئ.
- ولې د کلي خلک د څارويو له ساتلو سره ډېره مينه لري، بيان يې کړئ؟

خواب ورکړئ

- کورني څاروي د کومو موخو لپاره ساتل کېږي؟
- انسانانو له څه وخت څخه را پدې خوا د مالداري کسب غوره کړی دی او ولې؟
- کومو څارويو ته کورني څاروي ويل کېږي؟

کورنۍ دنده

د څارويو د ساتلو په اړه په خپلو کتابچو کې دوې جملې وليکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په کلو کې د مالداری ګټې

پوښتنه

ستاسو په آند! د کومو څارویو له شیدو، پوستکو او غوښو څخه ګټه اخیستل کېږي؟

الله(جَلَّ جَلاَلُه) څاروي د انسانانو د ګټو لپاره پیدا کړي دي، ترڅو له غوښو، پوستکو، وړیو او وژغنو څخه یې ګټه واخلي. مالداري په کلو کې ډېرې ګټې لري.

د ښلګې په توګه: د وزو، میږو او غواوو له شیدو څخه مستې، پیروی، شړومبې، کوچ، پنیر، چکه او کورت جوړوي. د حیواناتو له وړیو او وژغنو څخه غالۍ، ټغرونه، لیمڅې او قالینچې جوړوي. له غوایانو څخه د کرنې د ځمکو دیوې کولو او له خرو، کچرو او آسونو څخه د بار وړلو او سپرلۍ لپاره کار اخیستل کېږي. همدا راز له حیواني سرې څخه د کرنې د نبه والي لپاره هم ګټه اخیستل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د څارويو پوستکي او وړی له هېواد څخه بهرته صادريږي. څرنګه چې د اهلي څارويو ساتل د هېواد د اقتصاد په لوړوالي کې اغېزه لري، نو خلک بايد د څارويو روزلو او ساتلو ته پاملرنه وکړي.

فعالیت

په ډلو کې د مالداری د ګټو په اړه خبرې وکړئ.

ځواب ورکړئ

- د څارويو له شيدو څخه کوم شيان لاسته راځي؟
- د هېواد کوم حيواني محصولات بهرته صادريږي؟
- د حيواناتو روزنه او پالنه څه ګټې لري؟

کورنۍ دنده

په کلو کې کوم کارونه د حيواني محصولاتو د زياتوالي لامل کېږي، په دې اړه څو کرښې په خپلو کتابچو کې وليکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بښار

د څپرکي موخې

- له بښاري ژوند سره به بلد شي.
- بښاري کسبونه به وپيژني.
- د بښارونو د ډولونو توپير به وکړای شي.
- د افغانستان تاريخي بښارونه به په نقشه کې وښودلای شي.
- د نړۍ د سترو بښارونو نومونه به واخېستلای شي.
- د افغانستان له تاريخي بښارونو سره به يې مينه پيدا شي.

پنځلسم لوست

بښاري ژوند

پوښتنه: څه فکر کوئ! بښاري ژوند له کليوالي ژوند سره څه توپير لري؟

د کابل بښار انځور

بښارونه، د بازارونو، سرکونو، بښاروالۍ، پارکونو، دليدلوځايونو، دولتي اوغير دولتي ادارولرونکي وي.

بښارونه د کلو په پرتله لوی وي، نو ځکه په بښارونو کې ډېر خلک ژوند کوي. څرنګه

د هرات بښار انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې په ښارونو کې دکار او د آسانتیاوو زمینه برابره ده، له دې امله په کې بېلابېل قومونه او خلک ګډ ژوند کوي.

په ښارونو کې دولتي اداري، ښوونځي، مدرسې، پوهنتونونه، تولیدي کارخانې، هوایي ډګر، بانکونه، سوداګریز مرکزونه او داسې نور ټولنیز او اقتصادي تاسیسات شته. د ښار خلک په دولتي او غیر دولتي ادارو، مؤسساتو، سوداګرۍ، بازارونو، د تولید په کارخانو او نورو چارو کې بوخت وي، په ښارونو کې خلک د تګ او راتګ لپاره له موټر، موټرسایکل، بایسکل او داسې نورو څخه کار اخلي. مور به هغه وخت یو ښه، پاک او ښکلی ښار ولرو چې هر وګړی یې د ښار په پاکوالي کې برخه واخلي.

فعالیت

ښاري خلک زیاتره پرکومو چارو بوخت وي؟ په دې اړه په خپلو ډلو کې خبرې وکړئ.

خواب ورکړئ

- ښار څرنګه ځای ته ویل کېږي؟
- په ښارونو کې د دولتي ادارو ترڅنګه نور کوم مرکزونه شته؟
- ولې په ښارونو کې ډېر وګړي ژوند کوي؟

کورنۍ دنده

د خپلو کورنیو د غړو په مرسته د ښار د خلکو د دندو نومونه په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بناري خلکو کسبونه

پوښتنه

ستاسو په آند! بناري خلک په کومو کارونو بوخت دي؟

غالۍ اوبدل

ترکاڼي

پښګري

معماري

بناري خلک بېلابېل کسبونه لري، لکه: پښګري، مسګري، زرګري، خټګري، ترکاڼي، کولالي، خياطي، چمياري او داسې نور چې د انسان په واسطه جوړېږي. د بنار ډېر اوسيدونکي په داسې کارونو، لکه: معلمي، طبابت، انجينري او په دولتي ادارو کې په ماموريت او داسې نورو کارونو بوخت دي. د بنار په بازارونو کې ډول ډول شيان او توکي، لکه: موټر، موټر سايکل، بايسکل، راډيو، تلويزيون، کمپيوټر

(c) ketabton.com: The Digital Library

او نور برقي سامانونه، ډول ډول ټوکران او کالي، بوټان، د کور سامان او داسې نور پلورل کېږي. یو شمېر دا شیان په ښارونو کې جوړېږي او یو شمېر یې له بهرنیو هېوادونو څخه واردېږي.

فعالیت

په ډلو کې د ښاري کسبونو په اړه خبرې وکړئ؟

خواب ورکړئ

- په ښارونو کې سربېره په پښګرۍ نور کوم کسبونه شته؟
- کوم شیان په ښار کې پلورل کېږي؟
- د ښار زیاتره خلک په کومو کارونو بوخت دي؟

کورنۍ دنده

هغه کسبونه چې ستاسو په سیمه کې شته، په خپلو کتابچو کې یې ولیکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ښارونو ډولونه

پوښتنه

په انځورونو کې کوم ډول ښارونه وینئ؟

ښارونه د ځینو ځانګړتیاوو له مخې په لاندې ډول دي:

صنعتي ښارونه

هغه ښارونه دي چې تولید پکې کېږي، په دې ښارونو کې لوړني توکي په سوداګریزو مصنوعاتو بدلیږي.

سوداګریز ښارونه

ځینې ښارونه د راکړې ورکړې مرکزونه دي چې په عمومي ډول بندري ښارونه همدارنګه ځانګړتیاوې لري.

فرهنګي ښارونه

دا ډول ښارونه د علمي، فرهنګي، لوړو زده کړو او د علمي مرکزونو په درلودلو مشهور وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سیاسي ښارونه

دا ډول ښارونه په عمومي ډول مرکزي ښارونه او د اړوندو هېوادونو پایتختونه وي چې د دولت د اداري او سیاسي چارو تصمیمونه په کې نیول کېږي.

د سیل او سیاحت ښارونه

هغه ښارونه چې ښه موقعیت، تاریخي آثار او د سیل او تفریح لپاره په زړه پورې ځایونه ولري د سیل او سیاحت ښارونه دي.

مختلط یا عمومي ښارونه

دا ښارونه سره له دې چې صنعتي مرکزونه دي، سوداګریز، فرهنګي او تفریحي فعالیتونه هم په کې ترسره کېږي.

له پورتنیو ځانګړتیاوو سره سم زمور په هېواد کې کوم ښار شته؟ په دې اړه په خپلو ډلو کې سره خبرې وکړئ.

- د صنعتي ښارونو ځانګړتیاوې بیان کړئ.
- سیاسي ښار(پایتخت) کومې ځانګړتیاوې لري؟
- د کابل ښار په کوم ډول ښارونو کې شمېرل کېږي؟

د کابل ښار په اړه په خپلو کتابچو کې څو کرښې ولیکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د افغانستان مهم او تاريخي ښارونه

پوښتنه

ستاسو په آند! د افغانستان تاريخي ښارونه کوم دي؟

زمور گران هېواد افغانستان يو لرغونی هېواد دی، چې لوی، تاريخي او لرغوني ښارونه يې له بلخ (اُم‌البلاد)، هرات، بامیان، کابل، کاپیسا، بست، غور، غزني او داسې نورو څخه عبارت دي. د وړښمو تاريخي لاره هم د افغانستان له ځينو ښارونو څخه تېريدله چې د چين او هندوستان هېوادونه يې له اروپا سره نښلول. د وخت په تېريدو سره د ژوند په بېلابېلو برخو کې پرمختگونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

منځته راغلل او ښارونه هم پراخ شول. نن زمور د هېواد مهم او لوی ښارونه، لکه: کابل، مزار شریف، کندهار، هرات، جلال آباد، غزني، کندز، لښکرګاه، خوست، تالقان، پلخمري، بامیان، ګردیز او داسې نور دي.

فعالیت

څو تنه زده کوونکي دې په وارسره د نقشي پرمخ د افغانستان تاریخي ولایتونه، لکه: کندهار، بلخ، پروان، کندز، پکتیا، هرات، بامیان، غور او غزني وښیي.

خواب ورکړئ

- اُم البلاد زمور د ګران هېواد کوم ښار ته ویل کیده؟
- د ورېښمو لار کوم هېوادونه سره نښلول؟
- د افغانستان د اوسنیو پنځو مهمو او لویو ښارونو نومونه واخلئ؟

کورنی دنده

د افغانستان د پخوانیو ښارونو نومونه په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نړۍ لوی ښارونه

پوښتنه

له تاسو څخه چا د نړۍ د یوه لوی ښار نوم اوریدلی دی؟

د پاریس ښار

د استانبول ښار

په دې نړۍ کې چې مور ژوند کوو، لوی لوی ښارونه موجود دي. دا ښارونه د وګړو د زیاتوالي، لوی والي، جغرافیایي موقعیت، دیني، فرهنګي، سیاسي، اقتصادي او سوداګریزو ارزښتونو له امله ځانګړیتوب لري.

د نړۍ ځینې ستر ښارونه دا دي: په سعودي عربستان کې د مکې معظمې او مدینې منورې ښارونه، په ترکیه کې استانبول، په فرانسه کې پاریس، په روسیه کې مسکو، په مصر کې قاهره، په انګلستان کې لندن، په متحده ایالاتو کې نیویارک، په پاکستان کې کراچۍ او په هند کې د ډهلي ښار او داسې نور... دا ښارونه د علمي، فرهنګي، ورزشي مرکزونو او د سیل د ځایونو لرونکي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیت

هر هېواد له خپلې پلازمینې سره په خپلو کتابچو کې یو ځای کړئ.

قاهره	د امریکا متحده ایالات
پاریس	انګلستان
مسکو	مصر
لندن	فرانسه
واشنګټون	روسیه

ځواب ورکړئ

- د نړۍ د دوو مهمو ښارونو نومونه واخلئ؟
- لوی ښارونه ولې د اهمیت وړدي؟
- لوی ښارونه کومې آسانتیاوې لري؟

کورنۍ دنده

د څو لویو ښارونو نومونه په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د څپرکي موخې
- خپل هېواد افغانستان به ښه وپېژني.
- ملي بيرغ به وپېژني.
- ترافيکي مقررات به زده کړي.
- د ژوند د چاپېريال په اړه به معلومات ترلاسه کړي.
- د ملي بيرغ رنګونه به تشريح کړای شي.
- د هېواد او ملي بيرغ سره به مينه پيدا کړي.
- د ژوند د چاپېريال په پاکوالي کې به زيار وباسي.

شلم لوست

زمونږ هېواد افغانستان

پوښتنه: په نقشه کې څه وينئ؟



افغانستان د ټولو افغانانو ګډ کور دی، خلک يې په خپلو کې ورونه او سره برابر دي، افغانستان يو غرنی هېواد دی. زياتره غرونه يې په اوړي او ژمي کې له واورو ډک وي، له واورينو غرونو څخه سيندونه سرچينې اخلي چې ښه او ښکلې

(c) ketabton.com: The Digital Library

هوايي مور ته رابخښلي ده. افغانستان پريمانه طبيعي کانونه او ذخيرې لري، لکه: اوسپنه، سره زر، سپين زر، نفت، ګاز، د ډبروسکاره، مس او داسې نور. زمور د هېواد سوېلي او شمال ختيځې سيمې ډېر ځنګلونه لري، زمور هېواد د کرنې، بڼوالۍ او مالدارۍ لپاره مناسبه هوا او رڼې اوبه لري. زمور په هېواد کې ډول ډول کورنۍ او وحشي څارويي شته، مور له خپل هېواد سره مينه لرو د ورونو او خويندو په څېر يو له بل سره ژوند کوو، خپل حق او د نورو حق پېژنو او د هغو درناوی کوو. يو له بل سره لاس په لاس د خپل ګران هېواد په ساتنه او پرمختګ کې زيار باسو.

فعالیت

په ډلو کې زمور دګران هېواد افغانستان په اړه خبرې وکړئ.

خواب ورکړئ

- زمور د هېواد کومه سيمه ډېر ځنګلونه لري؟
- زمور په ګران هېواد کې کوم ډول طبيعي کانونه او زېرمې شته؟
- د خپل ګران هېواد د پرمختګ لپاره بايد څه وکړو؟

کورنۍ دنده

د خپل ګران هېواد په اړه په خپلو کتابچو کې څو کرښې وليکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملي بيرغ

پوښتنه

تاسو په ملي بيرغ کې څه وينئ؟

هر هېواد يو بيرغ لري چې د ملي هويت نښه يې ده. زمور د ګران هېواد افغانستان ملي بيرغ، درې رنګه لري: تور، سور او زرغون چې له کينې څخه نښي خواته په عمودي ډول يو د بل ترڅنګ په مساوي توګه ځای پرځای شوي دي. دا رنګونه زمور د هېواد په تاريخ کې ځانګړی مفهوم لري.

-تور رنګ زمور په هېواد کې د ښکېلا کګرو د تېرې نښه ده.

-سور رنګ د هېواد د خپلواکۍ د لارې د شهيدانو د سرو وينو نښه ده.

-زرغون رنګ د سمسورتيا، خپلواکۍ او آبادۍ نښه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د افغانستان د ملي بيرغ نښان له سپين رنګه محراب او منبر څخه عبارت دی، چې د ملي بيرغ په منځ کې ځای لري، د محراب او منبر دو اړه خواوې يې په دووکوچنيو بيرغونو، د (لا اله الا الله محمد رسول الله) په سپيڅلي کلمې، الله اکبر او د لمر وړانګې چې د راختلو په حال کې ليدل کيږي ښکلی شوی دی.

په لاندينۍ برخه کې يې د هېواد د خپلواکۍ نېټه (۱۲۹۸ لمريز) کال، د افغانستان نوم او په دوو څنډو يې د غنمو وړي را تاو شوي دي. ملي بيرغ د هېواد د تاريخ په اوږدو کې زمور د خلکو د ملي يووالي، خپلواکۍ او د ځمکنۍ بشپړتيا نښه ده.

مور د خپل هېواد ملي بيرغ ته په درنه سترګه ګورو او د هغه ساتنه کوو.

فعالیت

په ډلو کې د ملي بيرغ د رنګونو په اړه خبرې وکړئ.

خواب ورکړئ

- د افغانستان د ملي بيرغ د رنګونو نومونه واخلئ؟
- د بيرغ شين رنګ څه مفهوم لري؟ بيان يې کړئ.
- د افغانستان ملي نښان له څه شي څخه عبارت دی؟ واضح يې کړئ.

کورنۍ دنده

د خپل ګران هېواد بيرغ په خپلو کتابچو کې رسم او بيا يې رنګه کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دولتي اداري

پوښتنه

ستاسو په آند! دولتي اداري د کومو موخو لپاره جوړې شوي دي؟

هر هېواد د نظم راوستلو، خلکو ته د خدمت کولو، د اړیکو ټینګولو او د چارو د سرته رسولو لپاره،حکومت او اداروته اړتیا لري، چې دا اداري د وزارتونو او ریاستونو په نامه یادېږي،لکه: د پوهنې،دفاع، کورنیو چارو، بهرنیو چارو، مخابراتو،د لوړوزده کړو، عدلیې، ترانسپورت، عامې روغتیا، کرنې او داسې نور وزارتونه چې په بېلابېلو برخو کې د خلکو لپاره کار کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وزارتونه او حکومتي مهمې اداري د هېواد په پلازمېنه کې ځای لري.
د هر وزارت استازي په ولایتونو کې د ریاست او په ولسوالیو کې د مدیریتونو تر نامه لاندې کار کوي.

فعالیت

زده کوونکي دې په ډلو کې د دولتي ادارو په اړه خبرې وکړي او بیا دې د هغو ادارو په نومونو چې پوهېږي بیان کړي.

ځواب ورکړئ

- هر دولت د ښه نظم راوستلو لپاره څه شي ته اړتیا لري؟
- د هر وزارت نماینده ګي په ولایاتو او ولسوالیو کې تر کوم نامه لاندې کار کوي؟
- دولتي اداري څرنګه کولای شي چې خپلو هېوادوالوته د ښه خدمت کولو جوګه شي؟

کورنۍ دنده

د څو وزارتونو نومونه په خپلو کتابچوکې ولیکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترافيکي مقررات

پوښتنه

څه فکر کوئ چې په ښار کې د خلکو او وسايطو د تګ را تګ لپاره څه شي ته اړتيا ده؟

په ښارکې د ترانسپورتي وسايطو او لار و يو د تګ او راتګ د تنظيم لپاره ترافيکي قواعد او مقررات شته، د ترافيکي مقرراتو رعايتول د تګ او راتګ د آسانتياوو، د ترافيکي پېښو او ګڼې ګوڼې د مخنيوي لامل ګرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له واټونو څخه د تېریدو په وخت کې باید ترافیکي نښو، اشارو او د ترافیک د پولیس لارښوونو ته پاملرنه او د هغه مراعات و شي. په واټونوکې ترافیکي څراغونه شته چې درې رنګه لري. شین څراغ د حرکت او له واټ څخه د تېریدو، ژېړ څراغ، د حرکت لپاره د چمتووالي او سور څراغ د درېدو اشاره ده.

پلي کسان باید د تګ او راتګ په مهال له پیاده لارو څخه استفاده وکړي، ترڅو د ترافیکي پېښو څخه وژغورل شي.

فعالیت

یو زده کوونکی دې د ښوونکي په مرسته په ټولګي کې د ترافیکي څراغونو په پام کې نیولو سره له واټ څخه تېریدل عملي کړي.

خواب ورکړئ

- د دې لپاره چې ترافیکي پېښه منځته را نشي څه باید وکړو؟
- شین څراغ د څه شي نښه ده؟
- ترافیکي څراغونه کوم رنګونه لري؟

کورنۍ دنده

د ترافیکي اشارو زېړ، سور او شین رنګ د څه شي نښې دي؟ په خپلو کتابچو کې یې ولیکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د چاپېريال ساتنه

پوښتنه

ستاسو په فکر! ونې او ځنګلونه د ژوندانه چاپېريال ته څه ګټې رسوي؟

پاک او سمسور چاپېريال

په ښارونو کې د وګړو او اوسېدونکو زياتوالی د اوبو، خوراکي او د سُوَن د توکو (موادو) د ډېر لګښت او په چاپېريال کې د خځلو انارېدل د بېلابېلو ناروغيو لامل ګرځي،د ښار صفايي او پاکوالی د ښاروالۍ دنده ده، خو دا داسې ستونزه ده، چې د ښار په ټولو اوسېدونکو پورې هم اړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

لري؛ له دې امله هر څوک چې په ښاروونو کې ژوند کوي بايد د خپل ښار په پاکوالي او سمسورتيا کې د ښاروالۍ سره په مرسته کې فعاله برخه واخلي.

مور بايد د چاپېريال په ساتنه کې لاندې لارښوونې په پام کې ونيسو:

- هر کال نيالګي کينوو او چاپېريال پاک وساتو.
- خځلې او کثافات په خپل ټاکلي ځای (کثافات دانۍ) کې واچوو.
- د ونو او پارکونو ساتنه وکړو او له ماتولو څخه يې ډډه وکړو.
- په ويالو، لښتيو، پارکونو او سرکونو کې کثافات وانه چوو.
- د خپل کور يا د بل چا د کور مخې ته کثافات او خځلې وانه چوو، بايد ټاکلي ځای ته يې ورسوو.

فعاليت

په ډلو کې د چاپېريال د سمسورتيا په اړه خبرې وکړئ.

ځواب ورکړئ

- د چاپېريال په ساتنې کې ښاروالي څه دنده لري؟
- مور څنګه کولای شو چې خپل چاپېريال پاک وساتو؟
- ناپاک چاپېريال د انسانانو په ژوند کې څه اغېزې لري؟

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د پاک چاپېريال د ګټو په اړه څو کرښې په خپلو کتابچو کې وليکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د څپرکي موخې
- د څلورو اصلي خواوو سره به بلد شي.
- د څلورو اصلي او فرعي خواوو توپیر به وکړای شي.
- نقشه او د نقشې څلور خواوې به بیان کړای شي.
- د افغانستان څلور خواوې به په نقشه کې وښودلای شي.

پنځه ویشتم لوست

څلور اصلي خواوې

پوښتنې:

- ستاسو په آند! په دغه انځور کې څه لیدل کیږي؟

- څه فکر کوئ، زمور په هېواد کې قبله کوم لوري ته واقع ده؟

لمر هره ورځ له یوې خوا څخه راخېژي او بلې خواته پرېوزي. پخوا انسانانو د څلورو خواوو د پېژندلو لپاره د لمر له راختلو او پرېوتلو څخه ګټه اخیستله.

د لمر د راختلو خوا (لوری) د ختیځ (شرق) او د لمر پرېوتلو لوري ته لوېدیځ (غرب) وایي. که مور د لمر پرېوتو خوا ته داسې ودرېږو، چې شا مو د لمرخاته خواته وي، په دې صورت کې به زمور ښي خوا ته شمال او کینې خوا ته به مو سویل وي. دا څلور خواوې چې مور یې نومونه واخیستل، د څلورو اصلي خواوو په نامه یادېږي. څلور

شمال

(c) ketabton.com: The Digital Library

خواوې د قطب نما او مقناطيسي ميلې په واسطه هم ټاکلای شو.

فعالیت

يو زده کوونکی دې خپل مخ قبلې خوا ته وګرځوي او څلور اصلي خواوې دې په تمثيل سره عملي بيان کړي.

ځواب ورکړئ

۱. د څلورو اصلي خواوو نومونه واخلئ؟

۲. انسانان د څلورو لورو د پېژندلو لپاره له کومې طريقې څخه ګټه اخلي؟

۳. که تاسې مخ په لمرخاته ودرېږئ، ستاسو مخ، شا، ښي او کيڼ لاس ته به کوم لوري واقع وي؟

کورنی دنده

څلور اصلي خواوې په خپلو کتابچو کې وليکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

څلور فرعي خواوې

پوښتنه

ويلای شئ چې د کوټې څلور ګوټونه (کونجونه) کوم لوري راښيي؟

څلور اصلي او فرعي خواوې

فرعي لوری	اصلي لوری	فرعي لوری
اصلي لوری		اصلي لوری
فرعي لوری	اصلي لوری	فرعي لوری

ختيځ، لوېديځ، شمال او سوېل خوا وو ته اصلي لوري وايي. فرعي لوري د دوو اصلي لورو په منځ کې پراته دی. يعنې هغه لوری چې د شمال او ختيځ په منځ کې پروت دي، د شمال ختيځ په نوم او هغه لوری چې د شمال او لوېديځ په منځ کې پروت دی، د شمال لوېديځ په نوم يادېږي، هغه لوری چې د سوېل او ختيځ په منځ کې واقع دی، د سوېل ختيځ په نامه او هغه لوری چې د سوېل او لوېديځ په منځ کې پروت دی د سوېل لوېديځ په نوم يادېږي.

مور د قبلې، لارو او د ځايونو د پيدا کولو لپاره له څلورو اصلي او فرعي لورو څخه ګټه اخلو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



فعالیت

د لاندې جملو تش ځايونه په مناسبو کلمو په خپلو کتابچو کې پشپر کړئ:

د شمال اوختيځ منځ ته .... وايي.

د ختيځ او سويل منځ ته .... وايي.

د شمال اولوېديځ منځ ته ..... وايي.

د سويل او لوېديځ منځ ته .... وايي.

ځواب ورکړئ

- د څلورو فرعي خواوو نومونه واخلئ؟
- د ختيځ او سويل په منځ کې کوم فرعي لوری پروت دی؟
- د شمال او لوېديځ په منځ کې کوم فرعي لوری پروت دی؟

کورنۍ دنده

۱- ستاسو د کورونو په فرعي لورو کې کوم ځايونه پراته دي، په خپلو کتابچو کې يې وليکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نقشه او د هغې څلور خواوې

پوښتنه

نقشې ته وګورئ او د هغې څلور خواوې په نښه کړئ؟

د افغانستان سیاسي نقشه

نقشه داسې وسیله ده، چې د هغې په واسطه د ځمکې د مخ د هېوادونو او مختلفوسیمو په اړه معلومات لاس ته راوړو. جغرافیایي نقشه مور ته د وچو، د سمندرونو، غرونو، سیندونو، ځنګلونو، ښارونو او نورو موقعیت راښیي. نقشه ډېر ډولونه لري، لکه: طبیعي نقشه، سیاسي نقشه او نور.

هغه نقشه چې غرونه اوسیندونه په کې ښودل شوي وي، د طبیعي نقشې په نامه یادېږي. هغه نقشه چې ولایتونه، ښارونه، پلازمېنې، بندرونه، ګډې پولې او هېوادونه په کې ښودل شوي وي، د سیاسي نقشې په نامه یادېږي. په نقشو کې داسې نښې

(c) ketabton.com: The Digital Library

کارول کېږي چې مور ته بېلابېل جغرافيايي مهم ځايونه او موخې رابنيي.

په ټولو نقشو کې چې ستاسې په کتاب کې دي او يا د ټولګي په ديوال پورې ځړول شوي دي، پورته يې د شمال خوا، ښکته لوري ته سويل، ښي لاس ته د ختيځ لوری او کين لاس ته مو د لوېديځ لوری پروت دی.

د غره نښه

د سيندونو نښه

د ښار نښه

د پلازمينه (پايتخت) نښه

د ځلورو اصلي او فرعي خواوو په مرسته کولای شو چې د هېوادونو ځلور خواوې معلومې کړو.

فعاليت

په خپلو ډلو کې د نقشې له مخې د جملو تش ځايونه په مناسبو کلمو سره په خپلو کتابچو کې ډک کړئ.

د افغانستان لوېديځ ته ( ) موقعيت لري. د افغانستان شمال ته د ( ) او ( ) جمهوريتونه پراته دي. د چين د خلکو جمهوريت زمور د هېواد ( ) خواته پروت دی.

ځواب ورکړئ

- هره نقشه څو خواوې لري؟ نومونه يې واخلئ.
- د نقشې پرمخ ځلور خواوې يا لوري څرنګه موندلای شئ؟
- د نقشې پرمخ اصلي او فرعي لوري وښيئ؟

کورنی دنده

د افغانستان ځلور خواوې د نقشې له مخې په خپلو کتابچو کې وليکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د افغانستان ځلورخواوې

پوښتنه

څه فکر کوئ، د افغانستان ځلورو خواوو ته کوم هېوادونه پراته دي؟



زمور هېواد افغانستان د آسیا د لوېې وچې په سوېل کې پروت دی، زمور هېواد سمندرته لاره نه لري،ځلورو خواووته يې وچه ده. زمور د هېواد شمالي ګاونډيان د تاجکستان، ازبکستان او ترکمنستان جمهوريتونه دي. لوېديځ ته مو د ايران اسلامي جمهوريت پروت دی. د سوېل او ختيځ پولې يې د پاکستان اسلامي جمهوريت سره د ډيورند د تحميلي کرښې په واسطه په نښه شوې دي چې د افغانستان خلک يې په رسميت نه پېژني.. زمور هېواد په شمال ختيځه

(c) ketabton.com: The Digital Library

څنډه کې د چين له جمهوريت سره نښتی دی.

زمور هېواد د آسيا په لويه وچه کې د خپل موقعيت له مخې ځانګړی اهميت لري او د يوه پله په څېر د مرکزي آسيا هېوادونه د سويلې آسيا سره نښلوي.

فعالیت

په خپلو کتابچو کې مو د نښې لوري هېوادونه د کينې خوا له اړوندو جملو سره ونښلوئ.

۱- دازبکستان جمهوريت	۱- زمور د هېواد په شمال ختيځ کې پروت دی.
۲- د ايران اسلامي جمهوريت	۲- زمور د هېواد په شمال کې پروت دی.
۳- د چين د خلکو جمهوريت	۳- زمور د هېواد په لوېديځ کې پروت دی.

ځواب ورکړئ

۱- افغانستان د آسيا د لويې وچې په کومه برخه کې پروت دی؟

الف- شمال

ب- ختيځ

ج- سويل

۲- د افغانستان د ګاونډيو هېوادونو نومونه واخلئ؟

۳- د چين هېواد زمور د هېواد کوم لوري ته پروت دی؟

کورنۍ دنده

د افغانستان نقشه په خپلو کتابچو کې رسم کړئ او په هغې کې د ګاونډيو هېوادونو موقعيت په نښه کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د څپرکي موخې:

- د افغانستان له اداري وېش سره به بلد شي.
- د افغانستان دين،ژبې او نفوس په اړه به معلومات ترلاسه کړي.
- د هېواد د مشهورو غرونو نومونه بيان کړای شي.
- د هېواد مشهور سيندونه به په نقشه کې وښودلای شي.

نهه ويشتم لوست

زمورږ د هېواد اداري وېش

پوښتنه: کله مو فکر کړی دی، چې افغانستان څو ولايتونه لري؟



زمورږ د هېواد د ولايتونو نقشه

زمورږ گران هېواد افغانستان د اداري وېش له مخې په ۳۴ ولايتونو وېشل شوی دی. هر ولايت د والي له خوا اداره کېږي. والي د ولايت واکمن دی. چې دولتي کارونه د قانون په رڼا کې د هغه تر نظر لاندې اجرا کېږي. هر ولايت

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ولسوالیو وېشل شوی دی. ولسوالي د ولسوالانو له خوا اداره کېږي. زمور د هېواد مشهور ولایتونه له:کابل، هرات، کندهار، بلخ، کندز، ننګرهار، غزني او هلمند څخه عبارت دي. د افغانستان له لویو ښارونو څخه یو هم د کابل ښار دی چې د ګران هېواد پلازمېنه ده. جمهوري ریاست، ملی شورا، ستره محکمه، وزارتونه، لوی علمي او فرهنګي مرکزونه په پلازمېنې کې موقعیت لري.

فعالیت

زده کوونکي دې په پنځو ډلو ووېشل شي. هره ډله دې د هېواد د شمال ، سوېل، ختیځ، لوېدیځ او مرکزي ولایتونو نومونه واخلي او د نقشې پر مخ دې نورو ته وښیي.

خواب ورکړئ

۱- افغانستان څو ولایتونه لري؟

۲- ولایتونه د چا له خوا اداره کېږي؟

۳- د افغانستان د پلازمېنې نوم څه دی؟ هغه د نقشې پرمخ وښیئ؟

کورنۍ دنده

د افغانستان نقشه رسم کړئ او بیا پکې د کابل، کندهار، مزار شریف، هرات، ننګرهار، پکتیا او هغه ولایت چې تاسو په کې اوسېږئ په نښه کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د افغانستان دين، ژبه او نفوس

پوښتنې

- په لاندې انځور کې څه وينئ؟

- ستاسو په آند، د افغانستان خلک په کومو ژبو خبرې کوي؟

د افغانستان د خلکو دين اسلام دی. د اسلام سپيڅلی دين د مسلمانانو د دريم خليفه، حضرت عثمان (رضي الله عنهُ) په مهال افغانستان ته راورسېد او زمور خلک، پرې مشرف شول. له مسلمانانو سربېره يو لږ شمېر هندوان او سکهان هم زمور د هېواد اوسېدونکي او د نفوس يوه برخه ده.

په افغانستان کې له دېرشو څخه زياتې ژبې شته، چې زمور د هېواد په ېلا، ېلو سيمو کې پرې خلک خبرې کوي؛ له هغې جملې څخه پښتو او دري د دولت رسمي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژبې دي. ازبکي، ترکمني، پشه يي، بلوڅي، نورستاني، پاميري او گجري ژبې هم د هېواد په هغو ځايونو کې چې زيات شمېر وګړي پرې خبرې کوي، د دريمو رسمي ژبو په توګه منل شوي دي.

د افغانستان د وګړو شمېر شاوخوا (۳۰) ميليونه اټکل شوی دی.

د افغانستان خلک مسلمانان، په خپلو کې ورونه او سره برابر دي.

فعالیت

په ډلو کې د افغانستان د خلکو د دين او ژبو په اړه خبرې وکړئ.

ځواب ورکړئ

۱- زمور د هېواد د ځينو ژبو نومونه واخلئ؟

۲- د افغانستان د خلکو د نفوس په اړه څه پوهېرئ؟

۳- زمور د ګران هېواد خلک څه وخت د اسلام په دين مشرف شول؟

کورنۍ دنده

د افغانستان د خلکو د دين او ژبو په اړه څو کرښې په خپلو کتابچو کې وليکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د افغانستان غرونه

پوښتنه

ستاسو په فکر، په افغانستان کې د غرونو شتون څه اهمیت لري؟

افغانستان یو غرنی هېواد دی، چې د مساحت $\frac{۱}{۳}$ برخه یې لوړو او دنګو غرونو نیولې ده. دا غرونه زیاتره په مرکزي ختیځ او د هېواد په شمال ختیځو سیمو کې پراته دي. په دې سیموکې اقلیم سوړ وي او زیات وختونه په کې واوره اوربړي. زمور د ګران هېواد د مشهورو غرونو لړۍ له: هندوکش، بابا غر، سپین غر، تورغر، او داسې نورو څخه عبارت دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په هغو غرنيو سيمو کې چې د غرونو، ځمکې او واورو بدلېدل او د سېلابونو خطرونه پکې موجود وي بايد د اوسيدو ځای غوره نه کړو او د خطر د سيمو په مخ کې نيالګي کينوو.

فعالیت

په خپلو ډلو کې د غرونو د اهميت په اړه خبرې وکړئ.

خواب ورکړئ

۱- په يوې سيمې کې د غرونو شتون څه اهميت لري؟

۲- په غرونو کې واورې د څه شي لامل ګرځي؟

۳- زمور د هېواد څوومه برخه غرونو نيولې ده؟

کورنی دنده

د غرونو د اهميت په اړه په خپلو کتابچو کې څو کرښې وليکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د افغانستان مشهور غرونه

پوښتنه

ستاسو په آند، د افغانستان کوم غرونه مشهور دي؟



د هندوکش د غرونو لړۍ

دغه غر د هېواد له مشهورو او لويو غرونو څخه شمېرل کېږي چې له شمال ختیځ څخه سوېل لوېدیځ ته غځېدلی او په لوېدیځ هندوکش او ختیځ هندوکش وېشل شوی دی. د سالنګ لویه لار چې د هېواد شمالي سیمې له سوېل سره نښلوي، د همدې غرونو د لړیو په منځ کې تېریږي.

د بابا غر

دا غر زمور د هېواد په مرکزي برخو کې پروت دی او له ختیځ څخه لوېدیځ ته غځېدلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپين غر

د غرونو دا لړۍ د هېواد په ختيځ کې پرته ده، چې له ختيځ څخه د لوېديځ په لور غځېدلې ده. شمالي او جنوبي لمنې يې په لويو او ګڼو ځنګلونو پوښل شوې دي. په پورتنيو غرونو سربېره افغانستان نور مشهور غرونه هم لري چې له: فيروز کوه، سياه کوه، سلېمان غر، د ترکستان تيربند او داسې نورو څخه عبارت دي.

فعالیت

د افغانستان د مشهورو غرونو نومونه واخلئ او په نقشه کې يې وښيئ.

خواب ورکړئ

۱- د هندوکش دغرونو لړۍ د افغانستان په کومه برخه کې پرته ده او کومه مشهوره لار له هغه څخه تېرېږي؟

۲- د بابا غر په کوم ځای کې پروت دی او له کومه پلوه اهميت لري؟

۳- سپين غر د څه شي له امله اهميت لري؟

کورنۍ دنده

د خپلې سيمې د غرونو نومونه په خپلوکتابچو کې وليکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د افغانستان سيندونه

پوښتنه

څه فکر کوئ، سيندونه څه ډول منځته راځي؟

افغانستان د جغرافيايي موقعيت له پلوه چې له سمندرونو څخه لېرې پروت دی. زمور په هېواد کې اورښت يوازې د ژمي په موسم او د پسرلي په لومړيو وختونو کې کېږي. او د هېواد په لوړو او غرنيو سيمو کې زېرمه کېږي او د کال په اوږدو کې په تيره بيا د اوړي په موسم کې د اوبو لويې سرچينې جوړوي او سيندونه منځته راوړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له دې امله زمور د سيندونو اوبه د پسرلي په موسم کې ډېرې وي. زمور د هېواد مشهور سيندونه له: آمو، هلمند، کابل، هريرود، مرغاب، کونړ او داسې نورو څخه عبارت دي. د هېواد د سيندونو له اوبو څخه د کرنې، برېښنا، د ژرندو د ګرځېدلو، کب نيولو او نورو برخو کې ګټه اخېستل کېږي.

زموز د هېواد اوبه د دښتو په خړوبولو د برېښنا د بندونو په جوړولو، د کبانو د روزنې د پروژو او د ژوند د چاپېريال په سمسورتيا کې ډېرې آسانتياوې رامنځته کوي.

د يادونې وړ ده چې په خورونو او هغو ځايونو کې چې د سيلابونو خطر وي د اوسېدلو ځای غوره نه کړو او د سيلابونو په مهال ځان خوندي سيموته ورسوو.

فعالیت

په خپلو ډلو کې د هېواد د سيندونو د اهميت او ګټو په اړه خبرې وکړئ.

ځواب ورکړئ

لاندې جملې په خپلو کتابچو کې پوره کړئ

۱- سيندونه د خلکو د اړتياوو په پوره کولو کې ډېر..... لري.

۲- د سيندونو له اوبو څخه سربېره د (.....) کې ګټه اخيستل کېږي.

کورنۍ دنده

د سيندونو د اهميت او ګټو په اړه څو کرښې خپلو کتابچو کې وليکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د افغانستان مشهور سيندونه

پوښتنه

ستاسو په آند، زمور د هېواد د سيندونو له اوبو څخه سمه ګټه ترلاسه شوې ده؟



د آمو سيند

د کوچني پامير د زرقول جهيل له سيمې څخه سرچينه اخلي. د افغانستان له پولو څخه تېريږي او د ارال په سمندرګي کې توپيږي. دا سيند له افغانستان سره د تاجکستان، ازبکستان او ترکمنستان د هېوادونو ترمنځ ګډ سرحد جوړوي. د کوکچې او کندز سيندونه د هغه له مرستيالانو څخه شمېرل کيږي.

د هلمند سيند: د هلمند سيند د هېواد له لويو او اوږدو سيندونو څخه دی چې د پغمان له غره څخه سرچينه اخلي. د کجکي د بريښنا بند پر دې سيند جوړ شوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی، چې په زرګونو جریبه ځمکه خړوبوي او په پای کې د هلمند په هامون کې توییږي. د ارغنداب سیند د هغه له مرستیالانو څخه دی.

د هریرود سیند: دغه سیند د بابا د غره له لوړیدیځ څخه سرچینه اخلي. له ختیځ څخه د لوړیدیځ په لور بهیږي. د هرات ولایت د ځمکو له خړوبولو څخه وروسته له هغه ولایت څخه تېریږي او د افغانستان او ایران ترمنځ طبیعي پوله جوړوي.

د کابل سیند: د پغمان له غره څخه سرچینه اخلي او له لوړیدیځ څخه ختیځ لورته بهیږي. کله چې د کابل له ښار څخه تېر شي د لوګر، پنجشېر، لغمان(د الیشنګ، الینګار) او د کونړسیندونه ورسره ګډیږي چې په پای کې په اټک کې د سند له سیند سره ګډیږي.د دې سیند په اوږدوکې د ماهیپر، نغلو، سروبي او درونټې د بریښنا بندونه جوړ شوي دي چې د دې له اوبو څخه د خړوبولو او له بریښنا څخه یې په کابل، ننګرهار او لغمان کې ګټې اخیستل کیږي.

فعالیت

زده کوونکي دې په ډلو کې د نقشې له مخې د یوه سیند په اړه خبرې وکړي.

خواب ورکړئ

۱- د هلمند سیند له کوم غره څخه سرچینه اخلي او په پای کې چېرته توییږي؟

۲- د آمو سیند له کوم ځای څخه سرچینه اخلي او چېرته توییږي؟

۳- د هغو بندونو نومونه واخلئ، چې د کابل پر سیند باندې جوړ شوي دي.

کورنۍ دنده

د خپل ولایت د سیندونو نومونه په خپلو کتابچو کې ولیکئ او ووایاست چې د کال په کوم موسم کې یې اوبه ډېرې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د څپرکي موخې
- د نړۍ له وچو سره به پېژندګلوي وکړي.
- د آسیا او اروپا وچې به وپېژني.
- د آسیا او امریکا وچې به د نقشې پرمخ وښودلای شي.
- د آسترالیا او انتارکتیکا لویې وچې به د اقلیم له پلوه یو د بل سره پرتله کړای شي.
- هند سمندر ته تر ټولو نژدې هېوادونه به په نقشه کې وښودلای شي.
- د دې څپرکي له لوستونو سره به ډېره مینه پیدا کړي.

پنځه دېرشم لوست

لویې وچې (قارې)

پوښتنه: ستاسو په آند، لویه وچه (براعظم) څه ته ویل کېږي؟



د ځمکې د کُرې زیاتره برخه اوبو نیولې ده او لږه برخه یې وچه ده. لویې وچې د قارې (براعظم) په نوم یادېږي چې دځمکې پر مخ د هغوی شمېر شپږو ته رسېږي. په هره لویه وچه کې یو شمېر لوی او کوچني هېوادونه پراته دي. لویې وچې له آسیا، امریکا، افریقا، اروپا، آسترالیا - اوقیانوسیه او انتارکتیکا څخه عبارت

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي. د انتارکتیکا له لویې وچې څخه پرته چې ډېره سړه ده، د نړۍ نورې وچې د اوسیدو او د انسانانو د استوګنې ځایونه دي.

زمور ګران هېواد افغانستان، چې څو زره کلن فرهنګي او مدني تاریخ لري، د آسیا د لویې وچې په سوېل کې پروت دی.

فعالیت

په ډلو کې د نقشې له مخې د نړۍ لویې وچې وښیئ.

ځواب ورکړئ

سم ځواب غوره کړئ

۱-زمور هېواد په کومه لویه وچه کې پروت دی؟

الف: امریکا

ب: آسیا

ج: افریقا

د: اروپا

۲- انسانان په کومه لویه وچه کې په عادي توګه ژوند نشي کولای؟

کورنۍ دنده

د درسي کتاب له نقشې څخه په ګټې اخیستو، له لویو څخه د کوچنیو په لور په ترتیب سره د نړۍ د شپږو وچو نومونه په خپلو کتابچو کې ولیکئ

(c) ketabton.com: The Digital Library

د آسیا وچه

پوښتنه

څه فکر کوئ، په نړۍ کې ترټولو لویه او له نفوس څخه ډکه لویه وچه کومه ده؟



د آسیا سیاسي نقشه

د نفوس او مساحت د زیاتوالي له پلوه د آسیا لویه وچه د نړۍ له لویو وچو څخه ده. د آسیا لویه وچه د شمال له خوا په شمالي منجمد سمندر، له ختیځ څخه په بحر الکاهل، له سویل څخه د هند په سمندر او له لوېدیځ څخه د اروپا په لویې وچې پورې نښتې ده. د آسیا لویه وچه له دریو خواوو څخه اوبوته او له یوې خوا وچې ته لاره لري. اقلیم یې په ښلا ښلو ځایونو کې یو له بل سره توپیر لري، د ښلګې په توګه: هغه سیمې چې شمالي قطب ته نژدې دي، اقلیم یې سوړ او سویلي برخې یې تود اقلیم لري او نورې پاتې سیمې یې معتدل اقلیم لري. د

(c) ketabton.com: The Digital Library

نړۍ ډېر جګ غرونه يعنې همالیا په دې لوېې وچې کې موقعیت لري او مشهور سیندونه يې: آمو، ګنګا، او سند دي.

د آسیا لویه وچه د بشري تمدنونو زانګو ده او د نړۍ د نفوسو څخه ډک هېوادونه، لکه: (چین او هند) په دې لوېې وچې کې پراته دي. د دې لوېې وچې خلک بېلابېل نژادونه، ژبې او دینونه لري، زیات شمېر مسلمانان د آسیا په لویه وچه کې ژوند کوي. د آسیا په لویه وچه کې ۴۲ خپلواک هېوادونه موجود دي، لکه: افغانستان،سعودي عربستان، هند،ایران،جاپان، چین، پاکستان، ترکیه، روسیه او نور. د مسلمانانو مقدس ښارونه، لکه: مکه معظمه، مدینه منوره او بیت المقدس په دې لوېې وچې کې پراته دي.

فعالیت

زده کوونکي دې په ډلو کې د آسیا د لوېې وچې په اړه خبرې وکړي.

ځواب ورکړئ

د نړۍ نقشې ته وګورئ او د لاندېنیز جملو تش ځایونه په خپلو کتابچو کې ډک کړئ.

۱- د آسیا لویه وچه د سوېل له خوا په ..... سمندر او د ختیځ له خوا د..... سمندر، د شمال له خوا ..... او د لوېدیځ له خوا په ..... نښتې ده.

۲- د آسیا د څو هېوادونو نومونه واخلئ؟

۳- د آسیا په لویه وچه کې اقلیم (آب او هوا) څرنګه دي؟

کورنۍ دنده

د خپل کتاب د نقشې په مرسته د یو څو لویو آسیایي هېوادونو نومونه په خپلو کتابچو کې ولیکئ او په ټولګي کې يې نومونه واخلئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

داروپا وچه

پوښتنه

څه فکر کوئ، د اروپا لويه وچه د آسيا د لويې وچې په کومه خوا کې پرته ده؟



د اروپا لويه وچه د آسيا د لويې وچې سره نښتې ده؛ له دې امله ځينې جغرافيه پوهان دواړه لويې وچې د يوريشيا په نوم يادوي.

اروپا د شمال له خوا په شمالي منجمد سمندر، د ختيځ له خوا د آسيا د لويې وچې، د سهيل له خوا د مديترانې سمندرګي او د لوېديځ له خوا د اطلس له سمندر سره نښتې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اروپا د لويې وچې زياتره برخې په معتدله اقليمي سيمه کې پرتې دي او ډېرې برخې يې نېه اقليم لري.

د آلپ او پيرينه غرونه د هغې له نامتو غرونو څخه دي. د دې غرونو په منځ کې ښکلي ځړوبي او له اوبو څخه ډک سيندونه شته چې وربانديې لوی بندونه جوړشوي دي او له برېښنا څخه يې په صنعت او له اوبو څخه يې په کرنه کې کار اخېستل کېږي. د اروپا مشهور سيندونه د دانيوب او والګا سيندونه دي.

اروپا کوچنۍ وچه ده؛ خو ډېر نفوس او معتدل اقليم لري. په دې وچه کې علم، تکنالوجۍ او صنعت ډېر پرمختګ کړی دی. د اروپا په لويه وچه کې ۴۴ هېوادونه شتون لري، لکه: آلمان، فرانسه، انګلستان، هالېند، ايتاليا، يونان .... او نور.

فعاليت

زده کوونکي دې په ډلو کې د اروپا د لويې وچې په اړه خبرې وکړي.

خواب ورکړئ

۱ـ ځينې جغرافيه پوهان د اروپا اوآسيا لويې وچې په کوم نوم يادوي؟

۲ـ د اروپا د وچې ختيځ پلو ته کومه وچه پرته ده؟

۳- د اروپا د دريو هېوادونو نومونه واخلئ؟

کورنۍ دنده

د نقشې له مخې د اروپا د لسو هېوادونو نومونه په خپلو کتابچو کې وليکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د افريقا وچه

پوښتنه

څه فکر کوئ، د افريقا لويه وچه د آسيا د لويې وچې کومې خواته پرته ده؟



د افريقا د لويې وچې سياسي نقشه

د افريقا وچه د آسيا د وچې جنوب لوېديځ خواته پرته ده. دا وچه له آسيا څخه د سره سمندرګي په واسطه بېله شوې ده. د افريقا د براعظم شمال خواته د مديترانې سمندرګی، ختيځ خواته يې د هند سمندر، لوېديځ لورته يې د اطلس سمندر او سويل خواته يې د هند او اطلس سمندر ګډې اوبه واقع دي. دا وچه د لويوالي له پلوه د آسيا او امريکا له وچو څخه وروسته لويه وچه ده. د دې وچې زياتې برخې توده هوا لري. هغه خلك چې په افريقا کې ژوند کوي زياتره تور پوستي دي؛

(c) ketabton.com: The Digital Library

څرنګه چې د افريقا وچه د مکې معظمې لوېديځ خواته نژدې پرته ده؛ له دې کبله د اسلام دين ډېر ژر په دې لويه وچه کې خپور شو. اوس مهال زيات اسلامي هېوادونه په دې وچه کې واقع دي. نامتو غرېي د اطلس غر دی چې د افريقا په شمال لوېديځ کې پروت دی، لوی سيندونه يې د نيل او کانګو سيندونه دي. او همدارنګه د نړۍ لوی ريګستانونه چې د صحرای اعظم په نامه يادېږي هم په دې لويه وچه کې پراته دي. په دې لويه وچه ۵۵ خپلواک هېوادونه شته، لکه: مصر، ليبيا، الجزاير، ايتوپي، المغرب، نايجريا او داسې نور.

فعالیت

زده کوونکي دې په ډلو کې د نقشې له مخې د افريقا د شمال او ختيځ هېوادونو نومونه واخلي.

خواب ورکړئ

لاندې جملې په خپلو کتابچو کې پوره کړئ:

۱- د افريقا لويه وچه د ( ) په واسطه له آسيا څخه بېله شوې ده.

۲- د افريقا د لوېيې وچې شمال خواته ( ) پروت دی.

۳- د افريقا د څو هېوادونو نومونه واخلئ؟

کورنی دنده

د افريقا نقشه په خپلو کتابچو کې ولګئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د امریکا وچه

پوښتنه

ستاسو په آند، د امریکا لویه وچه له څو برخو څخه جوړه شوې ده؟



د امریکا لویه وچه چې له آسیا څخه وروسته د نړۍ لویه وچه ده دا لویه وچه د کرستوف کولمبوس په نامه یوه سړي چې په ۱۴۹۲ میلادي کال کې د هندوستان په لټه کې و، په ناڅاپي توګه د امریکا څنډو ته ورسېد او امریکایي کشف کړه. د امریکا لویه وچه د ختیځ له لوري د اطلس له سمندر، د لوېدیځ له لوري د آرام

(c) ketabton.com: The Digital Library

سمندر (بحر الکاهل)، د شمال له لورې د شمالي کنګل سمندر او د سویل له لورې د اطلس او آرام سمندرونو له ګډو اوبو سره نښتې ده. د شمالي امریکا لوی غرونه د راکي او په جنوبي امریکا کې د اندیزد غرونو په نامه یادیږي. د امریکا د لویې وچې سیندونه په شمالي امریکا کې د مسي سیپي سیند او په جنوبي امریکا کې د امازون سیند دی.

دا قاره په دریو شمالي، مرکزي اوجنوبي برخو وېشل شوې ده چې ۳۵ خپلواک هېوادونه لري. په شمالي امریکا کې دوه لوی هېوادونه کاناډا او د امریکامتحده ایالتونه پراته دي.

د مرکزي امریکا ډېر مهم هېوادونه مکسیکو، نیکاراګوا او پانامه دي.

د سویلي امریکا ډېر مهم هېوادونه: برازیل، ارجنټاین، چیلي او پیرو دي.

فعالیت

زده کوونکي دې په ډلو کې د نقشې له مخې د امریکا د لویې وچې څلور خواوې او د هغې ځینې مهم هېوادونه په نښه کړي.

خواب ورکړئ

۱ـ د امریکې لویه وچه په کوم کال کې او چا کشف کړه؟

۲ـ د امریکا متحده ایالات او کاناډا د امریکا د لویې وچې په کومه برخه کې پراته دي؟

۳- د امریکا لویه وچه د کومو سمندرونو په واسطه د آسیا، اروپا او افریقا له وچو څخه جلا شوې ده؟

کورنۍ دنده

د کتاب له نقشې څخه په ګټې اخېستنې سره د امریکا د وچې د څو هېوادونو نومونه په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دآسترالیااو اوقیانوسیې وچې

پوښتنه

ستاسو په فکر، دآسترالیا او اوقیانوسیې لویې وچې په کومه خوا کې پرتې دي؟



د آسترالیا او اوقیانوسیې لویه وچه له یوه لوی ټاپو او یو شمېر کوچنیو ټاپوگانو څخه جوړه شوې ده. د آسترالیا او اوقیانوسیې لویه وچه له څلورو خواوو څخه د سمندرونو په واسطه احاطه شوې ده.

لوېدیځ ته یې د هند سمندر، ختیځ او شمال خواته یې بحر الکاهل او جنوب خواته یې د هند سمندر او آرام سمندر ګډې اوبه پرتې دي. د دې وچې شمال

(c) ketabton.com: The Digital Library

لوېديځ ته نژدې هېواد د اندونيزيا اسلامي جمهوريت پروت دی.

آسترالیا، چې د اوقیانوسیې لوی ټاپو دی، یو خپلواک هېواد دی. د دې وچې ټول هېوادونه د ټاپو په څېر د سمندرونو په منځ کې پراته دي. د آسترالیا او اوقیانوسیې د لویې وچې ډېر مهم هېوادونه د آسترالیا هېواد، فیجي، نوی زیلاند او نور دي.

فعالیت

زده کوونکي دې په ډلو کې د کتاب له نقشې څخه په ګټې اخېستلو سره د آسترالیا او اقیانوسیې د هېوادونو نومونه په نښه کړئ.

خواب ورکړئ

۱-ولې د دې قارې هېوادونه د نورو وچوو هېوادونو په څېر یو د بل په څنګ کې پراته نه دي؟

۲_ آسترالیا ته نژدې هېواد څه نومېږي؟

۳- د دې وچې د څوهېوادونو نومونه واخلئ او د نقشې پرمخ یې پیدا کړئ؟

کورنۍ دنده

د کتاب د نقشې له مخې د آسترالیا او اقیانوسیه د هېوادونو نومونه په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

انتارکتیکا(سویلي قطب)

پوښتنه

ستاسو په آند، په سویلي قطب کې کومه لویه وچه پرته ده؟



په سویلي قطب کې د انتارکتیکا وچه

انتارکتیکا د ځمکې دکُرې شپږمه لویه وچه ده، چې د ځمکې د کُرې په سویلي قطب کې پرته ده.

دا قاره د آرام سمندر، د هند سمندر او اطلس سمندر دګډو اوبو په منځ کې پرته ده. انتارکتیکا ته تر ټولو نژدې هېوادونه: نوی زیلاند، آسترالیا او د ارجنټاین هېوادونه دي.

په دې وچه کې شپږ میاشتې ورځ او شپږ میاشتې شپه وي. هوا یې ډېره سړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ده او انسانان د تل لپاره هلته ژوند نشي کولای پوهان او عالمان د دوبي په موسم کې د علمي تحقیقاتو او څېړنو لپاره انتارکتیکا ته ورځي.

فعالیت

په ډلو کې د لوست د مفهوم په اړه خبرې وکړئ.

خواب ورکړئ

۱-ولې د تل لپاره انسانان په سویلي قطب یا انتارکتیکا کې ژوند نشي کولای.

۲-انتارکتیکا دکومو سمندرونو په منځ کې پرته ده؟ نومونه یې واخلئ.

۳- هغه هېوادونه چې انتارکتیکا ته نژدې دي نومونه یې واخلئ.

کورنۍ دنده

د انتارکتیکا نقشه په خپلو کتابچو کې رسم کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سمندرونه

پوښتنه

ستاسو په آند، په نړۍ کې څو سمندرونه شته.

هغه تروپې اوبه چې د ځمکې د سطحې په پراخو او ټيټو برخو کې موجودې دي د سمندر په نامه يادېږي. د ځمکې د مخ په سلوکې ۲۹ وچه او په سلوکې ۷۱ يې اوبه دي. ځمکه ډېر لوړ او ژور ځايونه لري. چې ټيټې برخې يې اوبو نيولي او لوړې برخې يې وچې دي. څرنګه چې په سمندرکې د سړک جوړولو مصرف نشته، ښېرۍ ګاني چې هر لوري ته وغواړي تګ را تګ کولای شي او په يوه ښېرۍ کې د څو لاريو مالونه ليږدول کېږي، نو له دې کبله د سوداګريزو مالونو کرايه د سمندر له لارې ارزانه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سمندرونو اوبه تروپ دي، په ځينو هېوادونو کې د سمندرونو اوبه تصفيه کوي او څښلو ته يې برابر وي، د سمندر له اوبو څخه د خوړو مالګه هم لاس ته راوړي، د ځينو سمندرونو له ژورو برخو څخه نفت او ګاز هم راباسي، ځينې خلک د سمندرونو په غاړو کې د کبانو د نيولو په کسب بوخت دي.

په نړۍ کې څلور لوی سمندرونه شته، چې د آرام سمندر (بحرالکاهل)، د اطلس سمندر، د هند سمندر او د شمالي منجمد سمندر دی.

فعالیت

په ډلو کې د نړۍ د لويو سمندرونو په اړه خبرې وکړئ.

ځواب ورکړئ

د لاندې جملو تش ځايونه په خپلوکتابچو کې ډک کړئ.

۱- ( ) په سلوکې د ځمکې مخ وچه ده؟

۲- د نړۍ سمندرونه ( ) نومړی؟

۳- ( ) په سلوکې د ځمکې مخ په اوبو پوښل شوی دی؟

کورنۍ دنده

د سمندرونو په اړه په خپلو کتابچو کې څو کرښې وليکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بحر الکاهل او د اطلس سمندر

پوښتنه

څه فکر کوئ، بحرالکاهل او د اطلس سمندر کومې وچې سره ښلوي؟



بحر الکاهل

بحر الکاهل یا آرام سمندر د نړۍ تر ټولو لوی سمندر دی چې شمال ته یې د بېرنګ آبنا، سویل ته یې د انتارکتیکا وچه، ختیځ ته یې د امریکا وچه او لویدیځ لورته یې د آسیا او آسترالیا وچې پرتې دي. آرام سمندر د آسیا او آمریکا لویې وچې سره ښلوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اطلس سمندر

په نړۍ کې دويم لوی سمندر د اطلس سمندر دی. دا سمندر د لوېديځ له خوا د امريکې وچې او د ختيځ له خوا د اروپا او افريقا وچو احاطه کړی دی. شمال لوری يې له شمالي منجمد سمندر او سوېل يې د انتارکتيکا له وچې سره نښتی دی. د اطلس سمندر د اروپا او افريقا وچې د امريکا له وچې څخه جلا کړي دي.

فعالیت

زده کوونکي دې په ډلو کې د کتاب د نقشې له مخې د بحرالکاهل او د اطلس سمندر په اړه خبرې وکړي.

خواب ورکړئ

۱- په ترتيب سره د نړۍ د لويو سمندرونو نومونه واخلئ.

۲- د اطلس سمندر کومې وچې يو له بل څخه جلا کوي؟

۳- د بحرالکاهل په شمال کې کومه آبنا پرته ده؟

کورنۍ دنده

د کتاب د نقشې له مخې د بحرالکاهل او اطلس د سمندر موقعيت په خپلو کتابچو کې وليکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هند او د شمالي منجمد سمندرونه

پوښتنه

ستاسو په فکر، زمور هېواد ته ډېر نژدې کوم سمندر دی؟



زمور هېواد ته ډېر نژدې سمندر د هند سمندر دی. د هند سمندر له شمال څخه د آسیا له لوېې وچې، له سوېل څخه انتارکتیکا، له لوېدیځ څخه د افریقا له وچې او له ختیځ څخه آسترالیا، اوقیانوسیې او له آرام سمندر سره نښتی دی. د آسیا په براعظم کې د هند د سمندر ساحلي هېوادونه پاکستان، هند، بنګله دېش او اندونیزیا دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شمالي منجمد سمندر ډېر کوچنی سمندر دی چې د آسیا، اروپا او امریکا د وچو په شمال کې یعنې په شمالي قطب کې پروت دی،د جنوبي قطب پرخلاف چې وچه ده شمالي کنګل سمندر تل کنګل وي. د شمالي کنګل سمندر ساحلي هېوادونه روسیه، ناروي او کانادا دي.



فعالیت

د هند د سمندر شمالي هېوادونه او د شمالي منجمد سمندر جنوبي هېوادونه په نقشه کې پیدا کړئ او ټولګیوالوته یې وښیئ.

خواب ورکړئ

۱- د هند سمندر د ځمکې په کومه برخه کې پروت دی؟

۲- شمالي منجمد سمندر د ځمکې په کومه برخه کې پروت دی؟

۳- د هند سمندر د څو ساحلي هېوادونو نومونه واخلئ؟

کورنۍ دنده

د هند سمندر او د شمالي منجمد سمندر د ساحلي هېوادونو نومونه په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د څپرکي موخې

. ځمکه او د هغې شکل به وپيژني.
. د استوا کرښې او د هغې د موقعيت سره به بلدشي.
. د طول البلد او عرض البلد په مفهوم به پوه او د هغوی ترمنځ به توپير وکړای شي.
. د ځمکې وضعي او انتقالي حرکتونه به تشريح کړای شي.
. د دې څپرکي د لوستونو له مفهوم سره به ډېره لېوالتيا پيدا کړي.

پنځه څلويښتم لوست

ځمکه او د هغې شکل

پوښتنه: ستاسو په فکر، ځمکه چې مور د هغې پرمخ ژوند کوو، څه ډول شکل لري؟

ځمکه چې مور د هغې پرمخ ژوند کوو، يو څه کُروي بڼه لري. لومړنيو انسانانو داسې فکر کاوه چې ځمکه هواره ده، پخوانيو هندیانو ځمکه د يوې پانې او يا تختې په څېر ګڼله، چې د يوه فيل پر شا باندې پرته ده. بابليانو ځمکه

(c) ketabton.com: The Digital Library

هواره ګڼله. د لومړي ځل لپاره یو عالم فیثاغورث د ځمکې په کروي والي باندې وپوهید. نن ورځ د علومو د پرمختګ له مخې دا ثابته شوې ده چې ځمکه کروي ده او د خدای (جَلَّ جَلاَلُه) په قدرت سره په هوا کې موقعیت لري.

فعالیت

په ډلو کې د ځمکې د جغرافیایي کُرې پرمخ د نړۍ وچې او سمندرونه وښیئ.

ځواب ورکړئ

لاندې جملې په خپلو کتابچو کې بشپړې کړئ.

۱- د ځمکې شکل کابو..... دي.

۲- د لومړي ځل لپاره یو عالم ..... د ځمکې په کروي والي باندې وپوهېده.

۳- د ځمکې کره چېرته موقعیت لري؟

کورنۍ دنده

د ځمکې کره په خپلو کتابچو کې رسم کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

داستوا کربنه

پوښتنه

نقشې ته وګورئ، د استوا کربنه د ځمکې د کُرې پرمخ څه رابنيي؟



استوا يوه فرضي کربنه ده چې د ځمکې کره يې په دوو شمالي او سويلي نيمه کره باندې وېشلې ده. د استوا له کربنې څخه تر شمالي قطب پورې شمالي نيمه کره او د استوا له کربنې څخه تر سويلي قطب پورې د جنوبي نيمې کرې په نامه يادېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د لمر وړانګې په کال کې دوه ځلې یو وار د وري د میاشتې په لومړۍ ورځ او بله پلا د تلې د میاشتې په لومړۍ ورځ د استوا په کرښې باندې په عمودي ډول لګېږي، چې له دې امله د شپې او ورځې ساعتونه سره برابرېږي یعنې ۱۲ ساعته ورځ او ۱۲ ساعته شپه وي.

د استوا کرښې ته د عرض البلد صفر درجه هم وایي.

فعالیت

هره ډله دې د ټولګي په مخکې یا د ښوونځي په انګړ کې یوه دایره جوړه کړي. د دایرې په منځ کې دې څو تنه د استوا کرښه داسې تمثیل کړي چې سویلي او شمالي نیمې کرې وښیي.

ځواب ورکړئ

لاندې جملې په خپلو کتابچو کې بشپړې کړئ.

۱- هغه فرضي کرښه چې ځمکه په دوو شمالي او جنوبي برخو وېشي د..... په نامه یادېږي؟

۲- د استوا شمالي برخې د..... په نامه یادېږي؟

۳- د استوا جنوبي برخې د..... په نامه یادېږي؟

کورنۍ دنده

د انځور له مخې د ځمکې کره رسم او په هغې کې د استوا کرښه په نښه کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

طول البلدونه

پوښتنه

څه فکر کوئ، د طول البلد مبدأ له کوم ځای څخه تېرېږي؟



د ځمکې کُره د یوې فرضي کرښې طول البلد په واسطه په دوونیمو ختیځو او لوېدیځو کُرو باندې وېشل کېږي چې د طول البلد د صفر درجې په نامه یادېږي. طول البلدونه له شمالي قطب څخه پیل او د استوا پرکرښې باندې په عمودي ډول ترجنوبي قطب پورې غځېدلي دي. د هغوی مبدا د لندن د ښار د ګرنیویچ د طول البلدونو د صفر درجې څخه پیل کېږي. (۱۸۰)

(c) ketabton.com: The Digital Library

درجې د ختیځ خواته او (۱۸۰) درجې د لوېدیځ خواته پراته دي، چې ټول طول البلد (۳۶۰) درجې کېږي. د طول البلدونو د فرضي کرښو له مخې د هېوادونو او ځایونو وخت او موقعیت ټاکلی شو.

فعالیت

په ډلو کې د نقشې له مخې د طول البلدونو مبدا وښیئ.

ځواب ورکړئ

لاندې جملې په خپلو کتابچو کې بشپړې کړئ.

۱- هغه فرضي کرښه چې شمالي او سویلي قطب سره نښلوي د..... په نامه یادېږي.

۲- د ځمکې د کرې پرمخ ..... طول البلدونه رسمیدلای شي.

۳- د طول البلد مبدأ له کوم ځای څخه پیل کېږي؟

کورنۍ دنده

د ځمکې کُره په خپلو کتابچو کې رسم کړئ او پر هغې کې طول البلدونه وښیئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

عرض البلدونه

پوښتنه

د عرض البلد مبدا کومه کرښه ده؟



عرض البلدونه هغه فرضي کرښې دي چې مبدأ يې د استوا کرښه ده. دا هغه فرضي کرښه ده چې ځمکه په دوو شمالي او سويلي نيمو کُرو باندې وېشي. د عرض البلد کرښې د موازي کرښو په نامه هم يادوي، ځکه چې تل په موازي شکل پرتې وي او يو بل نه قطع کوي. د عرض البلدونو شمېر (۱۸۰) درجو ته رسېږي چې (۹۰) درجې يې په شمالي نيمه کُره کې او (۹۰) درجې

(c) ketabton.com: The Digital Library

نور يې په سويلي نيمې کرې کې پرتې دي. د عرض البلدونو د فرضي کرښو له مخې کولای شو چې د اقليم څرنګوالی او د سيمو موقعيت پيدا کړو.

فعاليت

په ډلو کې د لوست مهم ټکي وليکئ.

خواب ورکړئ

لاندې جمله په خپلو کتابچو کې بشپړه کړئ.

۱- هغه فرضي کرښه چې ځمکه په دوو شمالي او سويلي نيمو کُرو باندې وېشي د ..... د مبدأ په نامه يادېږي.

۲- د ځمکې د کرې پرمخ د عرض البلدونو څو کرښې موجودې دي؟

۳- ولې د عرض البلدونو کرښو ته موازي کرښې ويل کېږي؟

کورنۍ دنده

د ځمکې کُره په خپلو کتابچو کې رسم کړئ او په هغې کې عرض البلدونه په نښه کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ځمکې حرکتونه

پوښتنه

ستاسو په فکر، ځمکه څو ډوله حرکتونه لري؟



د ځمکې کُره دوه ډوله حرکتونه لري، چې یو یې د وضعي اوبل یې د انتقالي حرکت په نامه یادېږي.

د ځمکې وضعي حرکت

ځمکه په ۲۴ ساعتونو کې یو وار د خپل فرضي محور پر شاوخوا له لوېدیځ څخه ختیځ ته څرخېږي، چې دې ډول حرکت ته د ځمکې وضعي حرکت

(c) ketabton.com: The Digital Library

وايي. په دې حرکت کې د ځمکې بېلابېلې برخې د لمر له مخې تېرېږي او د همدې حرکت له مخې شپه او ورځ او د هېوادونو تر منځ د ساعتونو توپيرمنځ ته راځي.

ډهلی کابل ریاض

فعالیت

په ډلو کې د لوست غوره مطلبونه را لنډ کړئ او يو له بله سره پرې خبرې وکړئ.

ځواب ورکړئ

لاندې جملې په خپلو کتابچو کې بشپړې کړئ.

۱-د ځمکې کره ..... حرکتونه لري.

۲-ځمکه په ..... يو وار د خپل فرضي محور په شاوخوا څرخي چې دغه حرکت د..... په نوم يادوي.

کورنۍ دنده

انځورونو ته وګورئ، د هېوادونو ترمنځ د وخت توپير په هکله څو کرښې په خپلو کتابچو کې وليکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ځمکې انتقالي حرکت

پوښتنه: ستاسو په فکر، د ځمکې د کوم حرکت په واسطه د کال څلور فصلونه پیدا کیږي؟



ځمکه پرته له وضعي حرکت څخه، یوبل حرکت د لمر په شاوخوا له لوبدیځ څخه ختیځ ته لري چې د ځمکې د انتقالي حرکت په نامه یادیږي. دا حرکت یو کال یعني ۳۶۵ ورځې او شپږ ساعته کیږي. د دې حرکت له مخې د کال څلور فصله (پسرلی، دوبی، منی او ژمی) منځته راځي.

د هر څلورو کلونو په تېریدلو سره، څلورم کال ۳۶۶ ورځې حسابیږي. هغه کال چې ۳۶۶ ورځې وي د کبیسه کال په نامه یادیږي.

فعالیت

په ډلو کې د ځمکې د انتقالي حرکت په اړه خبرې وکړئ.

ځواب ورکړئ

لاندې جملې په خپلو کتابچو کې بشپړې کړئ.

۱-د ځمکې انتقالي حرکت په..... ورځو کې د لمر په شاوخوا کې ترسره کیږي.

۲-هغه کال چې ۳۶۶ ورځې وي د..... په نامه یادیږي.

کورنۍ دنده

د ځمکې د انتقالي حرکت په اړه څو کرښې په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library